بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ



القراءة الراشدة

لتعليم اللغة العربية والثقافة الاسلامية

بطرز جديد

الجزء الاول (۱)

پښتو مترجم

مع الحواشي والتعليقات



تأليف

ابي الحسن علي الحسني الندوي رحمه الله تعالى

ژباړه، تشريح او تصحيح

د ډېرو كتابونو مؤلف، ژباړونكى، تصحيح كوونكى او تعليقات او حاشيه كوونكى او د كريميې مدرسې مهتمم او د دار الافتاء خادم مناظر اهل السنة والجماعة ابو الاخلاص مولوي مفتي نيك محمد صاحبزاده الفقهي الحنفي النقشبندي الكريمي

مكتبة الحراء ارگ بازار كندهار



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د کتاب پېژندنه

نوم: **القراءة الراشدة** لتعليم اللغة العربية والثقافة الاسلامية **الجزء الأول**

مؤلف: ابي الحسن علي الحسني الندوي رحمه الله تعالى

ژبـــاړه، تشريح او تصحيح: ابو الاخلاص مولوي مفتي نيک محمد صاحبزاده حنفي نقشبندي کريمي
فاضل المدرسة النورية دار العلوم علامه ابو الفيض کندهار
سابقه مدرس: المدرسة الحسنية في جامعة الحبشية
فعلاً مهتمم: المدرسة الكريمية دار العلوم قندهار لمفتي أبي الاخلاص
٩ ناحيه، لويه وياله د ډبرو پُل کندهار افغانستان

د اړيکو شمېرې: اداره: ٠٧١١١١٠٧٦٩
مهتمم: ٠٧٠٤٢٧٥٣٣٥
دارالافتاء ٠٧٠٧٨٠٣٣٠٤

تصحيح: پخپله مؤلف

د چاپ شمېر: ١١٠٠ يو زر او سل ټوکه

د چاپ کال: ١٤٠٣ ه ش. مطابق ١٤٤٦ ه ق.

کمپيوټري چاري: محمدنبي حقدوست (٠٧٠٧٤٢٨١١٦)

چاپ چاري: **مکتبة الحراء**، ارگ بازار کندهار افغانستان

د لاسته راوړلو پتې:

د کندهار ښار ارگ بازار، مکتبه الحراء، مکتبه ودودية، مکتبه غفارية، د عبد الحي کتابخانه او کريميه مدرسه او د قلات بازار، خيرخواه کتب خانه

د قراءة الراشده له سختو لغاتونو څخه موږ عجيب ډېر ستړي وو، ډېري زياتي پوښتني کېدلې، نو ځکه مو دا کار وکړ چي د قراءة الراشده موږ پښتو ته وژباړئ، تر څو نفعه يې عامه سي.

مفتي أبو الاخلاص صاحب



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ



محترمو مسلمانانو وروڼو! په دې قراءة الراشدة باندي مو تر خپله وسعه پوري خواري وکښله، الله تعالی دي يې قبول کړي او الله رب العزت دي د نور خدمت توفيق هم راکړي، آمين ثم آمين

والسلام

ابو الاخلاص

فهرست

مقدمه

الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد:

هند ته د اسلام د راتلو له لومړی ورځې بیا تر ننه پوري پکښې د عربي ژبې تدريسي خدماتو ته په دې باور پاملرنه سوې ده چې دا د اسلام ژبه او د کتاب الله وسنة الرسول د خزانو کيلي ده. اديبانو او ليکوالانو يې په عربي ژبه کي دومره مهارت ترلاسه کړی دئ د هغوی په ياد سره د اسلام تاريخ روښانه کيږي او د هغوی په ليکنو سره اسلامي آباد کتابتون ته نوي کتابونه وراضافه کيږي[1].

په هندوستان کي د مسلمانانو حکومت ختم سو خو د اسلامي مدرسو تغر يې تول نه سو تر ننه پوري يې هم څراغ د وچو او ترخو بادونو او سيليو په لګېدلو کي همداسي بل ساتلی دئ آن تر دې چي نن يې شمېر زرګونو ته رسيږي، په دې مدارسو کي د زده کوونکو شمېر دومره زيات دئ چي آن د ځيو اسلامي هيوادونو پر نفوس يې تعداد ډېر ګڼل کيږي[2].

په عقلي علومو، رياضي او وسيله يي علومو کي هندوستان تل خپله ځانګړې تګلاره ساتلې ده. دا د هندي علماؤ خپله ځانګړتيا ده. همدغه خاص طرز يې د اسلامي نړۍ په ګوټ ګوټ کي ومنل

(۱) تر څو د نوي نسل د سمون ذريعه وګرځي. ۱۲ ن
(۲) الحمد لله. ۱۲ ن

سو او تود هر کلی يې سوی دئ. د دې علماؤ تأليفات او شرحي لوستل کېدلې. د همدې هر څه په تدريس سره د علماؤ درناوی زياتېدی او د شرحو يې احترام کېدی، د طالبانو په فهم او زده کړه کې يې خپل ظرفيت لوړاوه تر څو چې د علامه نظام الدين اللکنوي (١١٦١ هـ) له خوا همدا ځانګړی طرز د نظامي درس منهج وټاکل سو. دغه منهج د هغه او د هندوستان د نورو علماؤ شاګردانو ته د ځانګړي وضعيت له مخې مطرح سوی دئ، نو په دې توګه په اسلامي نړۍ کې د دې منهج نوم وغوړېدی او پر علمي کړيو يې خپل خاص تاثير وکړ.

د دې عظيمي علمي سرمايې او ستري شتمنۍ په څنګ کې چې دوی ورته علوم الحکمت وايي، بل اړخ ته به د عربي ژبې اړوند لويه خاليګاه او خاصه نيمګړتيا ووينئ، که موږ د تدريسي منهج څخه د شعر برخه وباسو او له الحماسه السبع المعلقات او ديوان المتنبي څخه صرف نظر وکړو (ځکه دا ټوله نه د عربي ژبې له زده کړې سره مرسته کولای سي او نه د ليکنې او وينا فن ته قوت بخښلای سي، بلکې دا يو فکري تفريح ده چې د خوند کړکۍ پرانيزي او د تفريح تنده را پاروي) نو زموږ پخواني تدريس نظام کې له مقامات الحريري، پرته نور داسې مواد نسته چې عربي ژبه په زده او وپېژندل سي او مقامات لکه چې لوستونکی پوهيږي د

فني نثر او مصنوعي ادب يو شهکار دئ او که دي خوښه وي د بيان او بديع د فن يو مثال يې بللای سې، نه د طبيعي عربي ژبي توږل سوی نثر، له دې امله طالب نه سي کولای چي له هغه څخه د عربي ژبي اصول زده کړي، تر څو په کتابت او خطابت کي يې تمرين کړي او خپله ضرورت ور باندي پوره کړي، له همدې امله د همدې سيمي هغه اديبان او ليکوالان چي له عربي ژبي سره يې سر او کار وو، نثر يې پېچلی وو، بند وو، ادب يې په نه پيوند کېدونکي رنځ اخته سوی وو، د قلم څوکه يې ماته او کنډو وه او ژبه يې بنده او رسوا کوونکې وه.

په همدې حالت کي څو نسلونه او قرنونه تېر سول. موږ يې له وضعيت څخه په پوره توګه خبر هم نه يو يوازي دومره پوهيږو چي تر (١٣) هجري قرن پوري په مدارسو کي يوازي د عربي نثر لپاره مقامات ويل کېدی، له يمن څخه شيخ احمد الشيرواني راغلی او د کيسو او ټوکو ټکالو يوه وړوکې رساله يې وليکله چي (نفحة اليمن) نوم يې ورکړ. هندي علماؤ هغه غنميت وباله، لکه له آسمانه چي ورته رالوېدلې وي ځکه چي دوی تر مقامات مخکي يوه بل تدريسي کتاب ته اړتيا درلوده دوی ورته په خپل نصاب کي ځای ورکړ، له همدې ورځي څخه دې کتاب د هغوی توجه ځان ته جلب کړې وه او هيڅ خلاصون يې ترې نه ليدی.

د منځنۍ علمي کچې يو شمېر اشخاصو ځيني شعرونه ويلي وه، چې لويي نيمګړتياوي يې درلودې او چټيات وه. د اسلامي تمدن يو بد تمثيل او د مسلمانو سلفو د سيرت بد انځور يې وړاندي کاوه او د بې حياء موادو د شتون له کبله يې د بې ګناه ماشومانو له عقلونو سره لوبې کولې. نو دوی اړ سول چې له عربي هيوادونو څخه همالته تاليف سوي کتابونه وغواړي. اما ډېر ژر په دې پوه سول چې دغه کتابونه د خپل ډېر کره والي او غوره وضعيت لو ښې محتوا له کبله داسې علمي پانګه له ځان سره لري چې د هند او پاکستان او ور څېرمه هيوادونو (لکه بنګله ديش، افغانستان او نور ...) د مسلمانانو له مزاج سره سمون نه خوري نو د دغې منطقې د شاګردانو اړتيا ته جواب نه سي ويلای، د هغو هيوادونو تاريخ ته يې په محتوا کې ځای ور کړی دئ چې همدا کتابونه پکښې ليکل سوي دي. د هغو هيوادونو مشهوري څېرې يې معرفي کړي دي او د هماغو هيوادونو جغرافيه يې ذکر کړې ده نو زموږ د علاقې شاګردان د هغو هيوادونو پېژندګلوۍ ته اړتيا نه لري. دا خو پر لويه لار پرېږده چې په اړه يې معلومات حفظ کړي. د هند او ور سره نژدې اسلامي هيوادونو زده کوونکي دې ته اړتيا لري چې د خپلو سيمو او ښارونو مهم او ګټور معلومات ترلاسه کړي او يا د ټولو مسلمانانو په اړه خوندور معلومات ورته

چمتو کړل سي.

د مثال په توګه د مصر معارف وزارت چي په نصاب کي د القراءة الرشيدة لومړی ټوک شامل کړی دئ. دغه د هندوستان په ځينو مدرسو کي هم تدريسيږي.

په هغه کي به ته د قاهرې د جزيرة الروضة په اړه معلومات ولولې. د راته ګران مصر په اړه به اشعار وي. د وفاء النيل په نوم اختر به پکښي ومومې په دوهم ټوک کي به يې د مصر او اسکندريې تر منځ خبري اتري ولولې. د اهرام او خيريه بنسټونو په اړه به معلومات ووينې، د محمد پاشا په اړه به معلومات ترلاسه کړې، نور ټوکونه يې پر همدې قياس کړه او د دغي لړۍ نوري کړۍ ټولي همداسي وبوله.

يو هندي، پاکستاني حجازي او افغاني طالب ته د دې ټولو مصري موضوعاتو معرفت ولي ارزښتمن سي؟ او د مصري وياړ په نوم هغه شعر ولي ياد کړي او په ترنم ووايي؟ چي وايي:

مصر العزيزة لي وطن	وهي الفريدة في الزمن
وهي الحمى وهي السكن	وجميع ما فيها حسن

يعني مصر زما ګران وطن دئ، د خالپوخو استوګنځای مي دئ، د زماني يوازنی هيواد دئ چي په هغه کي هر څه ښکلي دي.

دغه شاګرد ولي د زده کړو په لومړي پړاو کي د مصر نومور

شخصيتونه وپېژني لکه محمد علي پاشا؟ په داسي حال کي چي هغه تر هر څه ډېر په ستر او اسلامي تاريخ کي د ډېر مهم انسان پېژندني ته اړتيا لري. همدا شان هغه کوچنی شاګرد چي په مصر کي نه وي را لوی سوی، په مصر پوري د خاصو درسونو فهم ورته ګران دئ ځکه مصر يې له خپل هيواد څخه ليري دئ. د مصر په عنعناتو، رواجونو او دودونو هيڅ خبر نه دئ. لکه د وفاء النيل د اختر کيسه يې.

ايا دا به زموږ لپاره ښه نه وي چي د نبوي سيرت اسلامي تاريخ او سترو اسلامي خبرو په اړه خپل درسونه ور څخه بېل کړو؟ که له دې چاره نه وي چي د خپل هيواد د موضوعاتو په اړه خبري وکړو او دا يو منل سوی حقيقت هم دئ چي د کوچني طالب ذهني فعاليت تېزوي نو بيا د وطني ځايونو، تاريخي آبداتو او هغو ودانيو په اړه درسونه ځای پر ځای نه کړو چي په دې هيوادونو کي يې مسلمانانويني، همدا شان د اسلامي اخترونو په اړه معلومات. د مثال په ډول که دا په هندوستان او پاکستان کي وي نو موږ بايد د طالب لپاره د همدې هيوادونو په اړه خاص يا عام درس د مسلمانانو لپاره وليکو لکه: د همدې هيوادونو د مسلمانو پاچاهانو تاريخي آثار يا هم د اسلامي نړۍ.

همدا راز د هغو کسانو په اړه چي هغوی د پېژندګلوی ډېر لايق

دي، لكه د هندوستان فاتح، بريالي غازيان، صالح باچاهان او د علم او ديندارۍ هغه وګړي چي همدې هندۍ خاوري زېږولي دي ...

پر دې هر څه سربېره په عربي هيوادونو كي ليكل سوي كتابونه د خپلو تعليمي، هيوادنيو سياسي مصلحتونو او نويو را ټوكېدلي كلتور په وجه له ديني روح څخه خالي وه. اما په هندي لوي وچي كي يو مسلمان په دې نه راضي كيږي چي عربي ژبه دي له ديني روح څخه خالي وي.

عربي ژبه لكه نوري بشري ژبي خپل ادب او ښكلا لري، له عربي ژبي سره د عجمو اړيكه د همدې دين مبين كتاب او نبوي سنتو له مخي ده؛ دوی ته ځكه عربي ژبه مهمه ده چي له دې پرته ديني سرچينو او منابعو ته لاس رسی نه سي موندلای نو لازمي خبره ده چي د عربي ژبي په درس او تدريس سره د كتاب او سنت افهام او تفهيم ته له واسطي پرته لار ومومي. په دې سره هغه چاپېريال ته په سمه توګه نژدې سي چي اسلامي ادب ور څخه را ټوكېدلی دئ. كه د عربي ژبي له دين او اسلامي ادب سره دغه پياوړې رسی وشكيږي، نو هر هندی او بل عجم كس به د دغي خوږې ژبي په اړه خپل ميلان هم كم كړي.

دې هر څه دا تقاضا كوله چي د عجمي سيمو مسلمانانو ته دي په

دوی پوري خاص تدريسي نصاب جوړ سي چي دوی خپلو خاصو چارو ته په کتلو سره ليکلی وي او د دوی له ديني طبيعت سره موافق وي.

د هند او پاکستان مسلمانانو ته د پېغور ځای دئ چي تر سياسي استقلال وروسته بيا هم خپل ځان ته تعليمي منهج نه لري. سره له دې چي علمي او فکري استقلال د سياسي استقلال مقدمې دي. هر سياسي استقلال چي علمي او فکري استقلال ترې مخته نه وي يا يې ملاتړ نه کوي، نو ډېر ژر ورته ضعف لاره مومي، په علمي او فکري غلامۍ تر اخته کېدو وروسته د سياسي غلامۍ کړۍ هم غاړي وراچوي.

په دغه وخت کي د ديني تعليم د مسئولو کسانو او علماؤ دنده جوړېږي چي يو خاص غوره تعليمي منهج ايجاد کړي، تر څو پر تعليمي ادبي منهج په آسانتيا او د وخت په ډېروالي کي برلاسی وي. د ماشومانو ارواح ته پکښې توجه سوې وي، تر نورو منهجونو په ديني او اخلاقي روزنه او نفسي پاکوالي سره ممتاز وي پر دې سربېره يې طالب د کايناتي چارو، تاريخ او عامو موادو څخه گټه واخلي او پر نويو تعليمي بنسټونو او تگلاره متکي وي.

دغه مهمه علمي ديني ستر پروگرام که څه هم د مسلمانانو ژوند او راتلونکي ديني تعليم ته يې خطرات او اثرات دواړه متوجه

کول، د دې مستحقه وه چې ستر علماء، لوی استاذان او د مهمو دندو خاوندان ورته ليکنې وکړي. په دې لاره کې خپل يو څه وخت او ځينې هڅې ونه سپموي، پر خپلو ډېرو علمي او سياسي بوختياؤ دې ته ترجيح ورکړي، ځکه دغه مهمه پراخ او پېچلې پروګرام د افرادو تر توان وتلې خبره ده، بلکې يوه درسته ټولې به ورته په ګرانه بسنه وکړای سي، خو له بده مرغه، علماء له دې مهم او ارزښتناک کار څخه مشغول دي. په داسې حال کې چې دغه کار ډېر صبر، سخت کار، پراخې خوښونې او پياوړې ملاتړ ته اړتيا لري. له دې سره جوخت يې خطر زيات، د نتيجو ښکاره کېدل يې زيات وخت غواړي او شهرت پکښې کم دئ.

په داسې يو وخت کې چې دغه مهم او ارزښتناک پروګرام پر تعليمي نظام خپل خطرونه غورځوي چې له هغه ځايه څخه بيا د مسلمانانو ديني ژوند ته هم ګواښ پېښولای سي. د دې کتاب ليکوال په دې کار لاس پورې کوي، تر څو د دې جهادي ډګر يو خطر منونکې سپاهي او د دې تعليمي ديني پروګرام يو وړوکی کارمند سي. همدا شان په خپل دې کار سره د دې خوږې ژبې يو څه حق اداء کړي او هم د هغو استاذانو حق اداء کړي چې دغه ژبه ورته ګرانه ده او تر خپله وسعه دغه لار ورته آسانه کړي.

سره له دې چې د ليکوال روغتيا د انديښنې وړ ده، ذهن يې په

نورو کارونو کي مشغول دئ، فکري تمرکز يې بايللى دئ. نوري بوختياوي يې زياتي دي او سفرونه هم ډېر په مخکي لري، بيا هم غواړي چي د الله تعالى په مرسته د دې مهم کار په برخه کي يوه وړه کارنامه ترسره کړي.

ليکوال لومړى دا کار وکړ چي له عربي ادب څخه د يوې ټولگي لپاره ځيني مواد غوره کړل. په دې سره دغه مجموعه په خپلو ټولو اړخونو کي لکه ادبي، تاريخي او تهذيبي، د اسلام له لومړي قرن څخه بيا تر (۱۴) هجري قرن پوري د يوه اسلامي ادب انځور وړاندي کوونکې سوه.

په دې مجموعه کي د عربي ادب رنگا رنگه رنگينۍ ته ځاى ور کړل سوى دئ. له اسماني وحي بيا تر نبوي بلاغته، د عربي ادب د ښه غوره‌بدلو مهال يې د مشهورو ويناوالو له ويناؤ بيا تر داستانونو، کيسو ليکونو، کتابونو مناقشاتو، خبرو اترو، سفرونو، ساده کورنيو خبرو، ټوکو ټکالو، حکمت او ساتېريو پوري ټولو ته په خلاص مټ ځاى ور کړى دئ چي دا هر څه يې له يو شمېر علمي دېوانونو را اخيستي دي، سره له دې چي په منلو کي يې ځند سوى دئ او تر دې وروسته مي په درسي منهج ور گډ کړي دي.

بيا ليکوال د يوه مصري اديب وړوکى کتاب وليدى چي د

زمريانو، غالبوزو، بيزوگيانو، لېوانو آن د خنزيرانو او سپيانو کيسې يې هم را نغښتې وي، عربي يې فصيحه وه، سختوالی يې کم وو، ترتيب يې عربي ډوله او روح او روان يې انگرېزی طرزه وو، ژبه يې اسلامي او سبک يې جاهلي غوندي وو. په هغه کتاب کي د حيواناتو انځورونه له غربي جامو سره چاپ يوي وه. نو هغه ته ډېره بده ښکاره سوه چي د مسلمانانو ماشومان دي په عربي کي يوازي د حيواناتو کيسې، پخواني نکلونه او خرافات ولولي، ده فکر وکړ چي د دې پر ځای د انبياؤ او رسولانو کيسې په آسانه ساده او روان سبک د ماشومانو پر اسلوبو او مزاج برابر ورته وليکي، لکه د کليمو او ښکلو جملو تکرارول، آسانه الفاظ غوره کول، ساده کيسې راوړل، د کتاب په متن کي يې د طبيعت منظرې ورکول او د مقدسو ځايونو عکسونه يې راوړي دي، د دې ټولگي په اړه مرحوم استاذ مسعود ندوي ويلي دي چي دا مجموعه لومړی ديني اصول او وروسته بيا عربي ادب ور ښيي.

بيا ليکوال په دې باوري سو چي دا هر څه هم د داسي سلسله واره درس يوه دا ډول خاليگاه نه سي ډکولای چي بايد د عربي ژبي او ادب په اړه ببلا ببل مواد په تدريج سره هغه ډول وړل يوي وای چي په هندوستان کي د را لوی سوي مسلمان يا هم په نورو اسلامي ښارونو کي د لوی سوي شخص ذوق يې خړوبولای سوای

نو ده دغه سلسله پر ځو برخو وویشله او هڅه يې وکړه چي:

١. د دې ټولګي ژبه د دين په اړه ادبي عربي وي چي د کتاب او سنت د ښايست پوښ ور اغوستل سوې وي.

٢. د عصري موضوعاتو په لړ کي نوي کليمې راوړل سوي وي چي عربي اصل او صحيح اشتقاق ولري، ښايي چي په دې برخه کي به ليکوال غالبًا د (مجمع فؤاد الأول للغة العربية) طريقه غوره کړې وي، تر څو شاګرد د عصري مراسمو په لړ کي د عجمي يا داخلي کليمو استعمال ته پنا يو نه سي او يا هم پر دغه ميدان ګونګی پاته نه سي.

٣. د عربي مفرداتو تکرار تر څو د شاګرد لپاره تمرين سي.

٤. د موضوعاتو او موادو تنوع څو د شاګرد ذهن فعاله وساتي. چي له يوې علمي فايدې څخه خوندوري کيسې ته واوړي بيا ور پسي جالبه محاوره وکړي، له يوه علمي درس څخه تاريخي کيسې ته ولاړ سي، يا هم له نثر څخه نظم يا وطني ترانې ته ګام واخلي.

٥. په احاديثو کي راغلي کيسې په آسانه ژبه ماشومانو ته د کيسو پر طريقه بيان سوي وي.

٦. د ژوند په بېلا بيلو اړخونو کي د اسلامي اخلاقو د زده کړي او تهذيب لپاره اخلاقي درسونه راوړل.

٧. د درس په منځ کي ماثوري (نقل سوي) دعاګاني او ديني آدابو

ته داسي ځای ورکول چي طالب يې په اړه فکر نه کوي چي په جبري توګه ورباندي تحميليږي، بلکي د درسونو او کيسو په منځ کي يې يادوي.

٨. د کتاب په ټوله محتوا کي ديني روح ته خاص پام سوی دئ چي په هيڅ ډول کتاب ورځخه خالي کېدلای نه سي. چي دغه ځانګړتيا يې ټول عمومي درسونه لري، هغه ديني درسونه دي او که د کايناتو، طبيعت، حيواناتو، نباتاتو او نويو عصري ابتکاراتو په اړه دي.

نو دا دئ د دې لړۍ لومړی کتاب لوستونکو، د مدرسو منتظمينو، او د ماشومانو سرپرستانو ته وړاندي کوم، که خدای کړي وه ژر به د دې لړۍ نوري کړۍ هم د درس لپاره ترلاسه کړئ.

والله المسئول أن ينفع بهذا الكتاب وبيده العصمة والتوفيق،

ولا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم.

ابو الحسن علي الحسني الندوي

١٣٦٥ هـ / ٢٥ / رجب

دار العلوم ندوة العلماء لكنو (هندوستان)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(١)

كَيْفَ اَقْضِىْ يَوْمِىْ؟[١]

زه خپله ورځ څنګه تېروم؟

اَنَامُ	مُبَكِّرًا	فِى اللَّيْلِ	وَاَقُوْمُ	مُبَكِّرًا
زه په شپه کي وختي بيده کېږم او وختي پاڅېږم				
فِى الصَّبَاحِ	اَسْتَيْقِظُ	عَلَى اسْمِ اللّٰهِ	وَذِكْرِهٖ	اَسْتَعِدُّ
په سهار کي زه د الله تعالى په نامه او د هغه په يادولو سره بيداره کېږم، زه اماده کېږم				
لِلصَّلٰوةِ	ثُمَّ	اَذْهَبُ	مَعَ وَالِدِىْ	اِلَى الْمَسْجِدِ
د لمانځه لپاره، وروسته زه له خپل پلار سره و مسجد ته ځم				
وَالْمَسْجِدُ	قَرِيْبٌ	مِنْ بَيْتِىْ	فَاَتَوَضَّاُ	وَاُصَلِّىْ
او مسجد زموږ کور ته نژدې دئ، نو زه اودس تازه کوم او لمونځ کوم				

---

(١) له دې درس څخه به شاګردان دا زده کوي چي بايد زه هم ځان داغسي جوړ کړم او دغه تېوله کړه وړه په ځان کي راولړ. ١٢ ن

مَعَ الْجَمَاعَةِ وَاَرْجِعُ اِلَى الْبَيْتِ وَاَتْلُوْ شَيْئًا

په جماعت سره ، او زه بيرته كور ته را ګرځم او يو څه تلاوت كوم

مِنَ الْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ، ثُمَّ اَخْرُجُ اِلَى الْبُسْتَانِ

له قرآن كريم څخه ، وروسته زه وزم و باغ ته

وَاَجْرِیْ، ثُمَّ اَرْجِعُ اِلَى الْبَيْتِ فَاَشْرَبُ اللَّبَنَ

او منډه وهم، وروسته زه بيرته كور ته راګرځم، نو شيدې څښم

وَاَسْتَعِدُّ لِلذَّهَابِ اِلَى الْمَدْرَسَةِ وَاُفْطِرُ اِذَا كَانَتْ

او زه و مدرسې ته د تللو امادګي نيسم او زه ناشته كوم كله چې

اَيَّامُ الصَّيْفِ وَاَتَغَدّٰی اِذَا كَانَتْ اَيَّامُ الشِّتَآءِ

د دوبې ورځې وې او زه نهارى كوم كله چې د ژمې ورځې وې

وَاَصِلُ اِلَى الْمَدْرَسَةِ فِى الْمِيْعَادِ. وَاَمْكُثُ فِى

او زه و مدرسې ته پر ټاكلي وخت رسيږم او زه پاته كيږم په

الْمَدْرَسَةِ سِتَّ سَاعَاتٍ، وَاَسْمَعُ الدُّرُوْسَ بِنَشَاطٍ

مدرسه كې شپږ ساعته او زه په شوق سره او په لېوالتيا سره درسونه

وَرَغْبَةٍ وَاَجْلِسُ بِاَدَبٍ وَسَكِيْنَةٍ حَتّٰى اِذَا انْتَهٰى

اورم او زه په ادب او آرامۍ سره كښېنم تر هغو چې كله پاى ته ورسيږي

الْوَقْتُ وَضُرِبَ الْجَرَسُ خَرَجْتُ مِنَ الْمَدْرَسَةِ

وخت او زنګ ووهل سي، زه له مدرسې څخه وزم

وَرَجَعْتُ اِلَى الْبَيْتِ. وَلَا اَقْرَاُ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ اِلَى

او کور ته ستنېږم او زه د ماځيګر تر لمانځه وروسته لوستل نه کوم تر

الْمَغْرِبِ، وَفِيْ بَعْضِ الْاَيَّامِ اَمْكُثُ فِي الْبَيْتِ، وَفِيْ بَعْضِ

ماښامه پوري او په ځينو ورځو کي زه په کور کي پاته کېږم او په ځينو

الْاَيَّامِ اَذْهَبُ اِلَى السُّوْقِ وَاَشْتَرِيْ حَوَائِجَ الْبَيْتِ

ورځو کي زه بازار ته ځم او د کور د ضرورت شيان رانيسم

وَفِيْ بَعْضِ الْاَيَّامِ اَخْرُجُ مَعَ اَبِيْ اَوْ اَخِيْ اِلٰى بَعْضِ

او په ځينو ورځو کي له خپل پلار يا ورور سره وزم د ځينو

الْاَقَارِبِ، اَوْ اَلْعَبُ مَعَ اِخْوَتِيْ وَاَصْدِقَائِيْ. وَاَتَعَشّٰى

خپلوانو کره او زه د خپلو وروڼو او ملګرو سره لوبي کوم او زه د ماښام ډوډۍ خورم

مَعَ وَالِدِيْ وَاِخْوَتِيْ وَاَحْفَظُ دُرُوْسِيْ، وَاُطَالِعُ لِلْغَدِ(١)

له خپل پلار او وروڼو سره او خپل درسونه يادوم، او د سبا لپاره مطالعه کوم

---

(١) دا څومره مهمه نکته ده چي د سبا درسونه به نن ماښام ګورم او کوم ځايونه چي سخت وي، او نه پرې پوهېږم، د درس په وخت کي هغو ته ښه متوجې سم او ځان پرې پوه کړم، خو په دې کي اوس ډېره کمزوري ليدل کيږي. ١٢ ن

وَاَسْتَعِدُّ لِلدَّرْسِ، وَاَكْتُبُ مَا يَاْمُرُ بِهِ الْمُعَلِّمُ، وَاُصَلَّى
او د درس لپاره امادګي نيسم او څه چي استاذ راته ويلي دي هغه ليکم او لمونځ کوم
الْعِشَآءَ وَاَقْرَاُ قَلِيْلًا، ثُمَّ اَنَامُ عَلَى اسْمِ اللهِ وَذِكْرِهِ
د ماخستن او يو څه لوستل کوم، وروسته د الله تعالى په نامه او ذکر سره يې بيدېږم
تِلْكَ عَادَتِيْ كُلَّ يَوْمٍ لَا اُخَالِفُهَا وَاَقُوْمُ مُبَكِّرًا يَوْمَ
زما دغه عادت هره ورځ وي او زه د هغه مخالفت نه کوم او زه وختي پاڅېږم په ورځ
الْعُطْلَةِ اَيْضًا، وَاُصَلِّيْ مَعَ الْجَمَاعَةِ⁽¹⁾ وَاَتْلُو الْقُرْآنَ
د رخصتۍ هم داسي، او زه لمونځ په جماعت سره اداء کوم او د قرآن کريم تلاوت کوم
وَاَقْضِيَ الْيَوْمَ فِيْ مُطَالَعَةِ كِتَابٍ وَمُحَادَثَةٍ مَعَ اَبِيْ
او زه مي ورځ د کتاب په لوستلو او په خبر اترو تېروم له خپل پلار سره
وَاُمِّيْ وَاِخْوَتِيْ وَفِيْ زِيَارَةِ قَرِيْبٍ اَوْ عِيَادَةِ مَرِيْضٍ
او له خپلي مور او خپلو ورونو سره او د خپلوانو په ليدلو او د مريض په پوښتني سره
وَاَمْكُثُ اَحْيَانًا فِي الْبَيْتِ وَاَخْرُجُ اَحْيَانًا اِلَى الْخَارِجِ
او زه ځيني وختونه په کور کي پاته کېږم، او ځيني وختونه دباندي وزم.

(١) جماعة د جيم په فتحه سره ويل کيږي، په ضمه سره ويل يې غلط دي، هکذا في (معجم الوسيط، ولسان العرب). ١٢ ن

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) ماذا تفعل عندما تستيقظ من نومك؟

(٢) لماذا تستيقظ باكرًا؟

(٣) هل تساعد اباك في شراء الحاجيات من السوق؟

(۴) كيف تقضى يوم العطلة؟

(۵) ما الاذكار التى تقولها حين تريد ان تنام؟

اختر الاجابة الصحيحة مما يلى:

اين تتعلم؟

(فى المسجد، فى المدرسة، فى المنزل)

اين تتلقى الدروس؟

(فى الشارع، فى الحديقة، فى حجرة الدراسة).

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٢)

لَمَّا بَلَغْتُ السَّابِعَةَ مِنْ عُمُرِيْ(١)

کله چې زما عمر اووه کاله ته ورسېدی

لَمَّا بَلَغْتُ السَّابِعَةَ مِنْ عُمُرِيْ اَمَرَنِيْ اَبِيْ بِالصَّلٰوةِ
کله چې زما عمر اوو کالو ته ورسېدی، زه مې خپل پلار په لمانځه کولو امر کړم
وَكُنْتُ تَعَلَّمْتُ كَثِيْرًا مِنَ الْاَدْعِيَةِ وَحَفِظْتُ سُوَرًا
او ما ډېرې دعاګانې کړې وې او سورتونه مې ياد کړي وه
مِنَ الْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ مِنْ اُمِّيْ، وَكَانَتْ اُمِّيْ تَتَكَلَّمُ
له قرآن کريم څخه له خپلې مور څخه، او زما مور به خبرې اترې کولې
مَعِيْ كُلَّ لَيْلَةٍ عِنْدَ الْمَنَامِ فَتَقُصُّ عَلَيَّ قِصَصَ
زما سره هره شپه د بيده کېدو په وخت کې نو ما ته به يې قصې کولې
الْاَنْبِيَاءِ، وَكُنْتُ اَسْمَعُ هٰذِهِ الْقِصَصَ(٢) بِنَشَاطٍ
د انبياء عليهم السلام او ما به دغه قصې په شوق سره اورېدلې

---

(١) په نور الايضاح (٥٥ صفحه) کې ليکلي دي چې کله اولاد د اوو (٧) کالو سي، نو د لمانځه له کولو او د روژې له نيولو سره دې عادت کړل سي، خو وهې دې يې نه. او کله چې د لسو کالو سي، بيا دې يې د لمانځه پر نه کولو او د روژې پر نه نيولو دې يې په لاس ووهل سي، نه په لرګي يا بل څه. ١٢ ن

(٢) قصص د قاف په فتحه او کسره دواړو سره ويل کيږي. ١٢ ن

وَرَغْبَةٍ. وَبَدَأْتُ أَذْهَبُ مَعَ أَبِيْ إِلَى الْمَسْجِدِ وَأَقُوْمُ

په لېوالتيا سره. او ما له خپل پلار سره مسجد ته تلل شروع کړل او زه به درېدم

فِيْ صَفِّ الْأَطْفَالِ خَلْفَ صَفِّ الرِّجَالِ، وَلَمَّا بَلَغْتُ

د ماشومانو په صف (قطار) کې د غټو خلکو د صف تر شا او کله چې ورسېدی

الْعَاشِرَةَ مِنْ عُمْرِيْ قَالَ لِيْ مَرَّةً: قَدْ أَكْمَلْتَ

زما عمر لسو کالو ته نو ما ته يې يو وار ووېل: په حقيت کې تا پوره کړل

الْآنَ مِنْ عُمْرِكَ تِسْعَ سِنِيْنَ، وَالْآنَ أَنْتَ ابْنُ

اوس له خپل عمر څخه نهه (٩) کلونه، او اوس ته يو هلک

عَشْرِ سِنِيْنَ فَإِذَا تَرَكْتَ صَلٰوةً ضَرَبْتُكَ، لِأَنَّ

لس کلن يې، نو که چېرې تا يو لمونځ پرېښوولی، زه دې وهم، ځکه چې

النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: مُرُوْا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلٰوةِ وَهُمْ

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: خپل اولادونه په لمانځه امر کړئ کله چې

أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ

هغوی د اوو کالو وي او هغوی پر لمانځه وهئ (پر پرېښولو يې) کله چې هغوی د لسو

عَشْرٍ. وَقَصَّ عَلَيَّ أَبِيْ قِصَصَ الْأَطْفَالِ الَّذِيْنَ

کالو وي، او ما ته مې پلار د هغو ماشومانو قصې کولې

حَافَظُوْا عَلَى الصَّلٰوةِ فِي الصِّغَرِ، وَكَانَ لَهُمْ شَأْنٌ

چي هغوی په ماشومتوب کي خپل لمانځه ته پاملرنه کوله او هغوی عزتمن وه

فِي الْكِبَرِ. قُلْتُ: يَا اَبِيْ! اِنَّكَ لَاتَحْتَاجُ اِلٰى اَنْ

په لوی والي کي. ما ورته وویل: اې پلاره! اصلاً ته به دې ته هيڅ اړ نه سې چي

تَضْرِبَنِيْ وَسَاُحَافِظُ عَلَى الصَّلَوَاتِ وَكَذٰلِكَ فَعَلْتُ

ما ووهې او زه به ژر تر ژره خپلو لمونځونو ته توجه وکړم او همداسي به يې کوم

فَقَدْ كُنْتُ اُصَلِّيْ اَيْنَمَا كُنْتُ، كُنْتُ اِذَا ذَهَبْتُ

نو په رښتيا هم زه چي به په هر ځای کي وم لمونځ به مي کاوه، او څه وخت چي به زه تلم

اِلَى السُّوْقِ اَوْ كُنْتُ فِيْ شُغْلٍ وَاَدْرَكَتْنِي الصَّلٰوةُ

و بازار ته او يا دا چي زه به په يوه کار بوخت وم او د لمانځه وخت به راورسېدی

فِيْ مَكَانٍ صَلَّيْتُ، لِاَنِّيْ اَرَى النَّاسَ لَايَخْجَلُوْنَ

په يوه ځای کي ما به لمونځ کاوه، ځکه چي ما به ليدل چي خلک به نه شرمېدله

مِنَ الْاَكْلِ اِذَا جَاعُوْا، وَاللَّعِبِ اِذَا اَرَادُوْا. فَلِمَاذَا

په خوراک کولو سره چي کله به وږي سول، او په لوبو سره چي کله به يې وغوښتل نو بيا ولي

اَخْجَلُ مِنَ الصَّلٰوةِ؟ وَاِنَّ الصَّلٰوةَ لَفَرِيْضَةٌ وَاِنَّ

زه په لمانځه کولو سره وشرمېږم؟ حال دا چي به شرک پرته لمونځ فرض دئ او دا چي

الصَّلٰوةَ لَشَرَفٌ لِلْمُسْلِمِ. وَخَرَجْتُ مَرَّةً اِلٰى مُبَارَاةٍ
لمونځ د مسلمان لپاره شرافت دئ، او زه يو وار يوې سيالۍ ته ووتلم
وَكَانَ الزِّحَامُ شَدِيْدًا، وَاَدْرَكَتْنِيْ صَلٰوةُ الْعَصْرِ
او ډېره ګڼه ګونه وه، او د ماځيګر د لمانځه وخت راورسېدی
وَكُنْتُ عَلٰى وُضُوْءٍ، فَقُمْتُ اُصَلِّيْ وَجَعَلَ النَّاسُ
او ما اودس درلودی، نو زه ولاړ سوم لمونځ مي وکړ او خلګو
يَنْظُرُوْنَ اِلَيَّ وَيَتَعَجَّبُوْنَ وَاَكْمَلْتُ صَلٰوتِيْ بِسَكِيْنَةٍ(١)
و ما ته کتل او حيران وه او ما په آرامۍ سره خپل لمونځ پوره کړ
وَاعْتِدَالٍ وَرَجَعْتُ اِلَى الْمُبَارَاةِ وَلَمَّا انْتَهَتِ الْمُبَارَاةُ
او په برابرۍ سره او و سيالۍ ته را وګرځېدلم او کله چي سيالي پای ته ورسېده
جَآءَ اِلَيَّ رَجُلٌ وَسَاَلَنِيْ عَنِ اسْمِيْ وَاسْمِ وَالِدِيْ
يو سړی راغلی او زما څخه يې زما او زما د پلار د نامه پوښتنه وکړه
وَسَاَلَنِيْ عَنْ سِنِّيْ فَاَخْبَرْتُهٗ فَاَثْنٰى عَلٰى اَبِيْ خَيْرًا
او زما د عمر پوښتنه يې را څخه وکړه نو ما هغه ته جواب ورکړ، نو هغه زما پلار په نيکۍ وستايه

(١) لمونځ سکون او آرامۍ ځای دئ، نو بايد ډېر سکون او راحت پکښې وي. ١٢ ن

وَدَعَا لِیْ بِالْبَرَكَةِ(١) وَقَالَ: مَا رَاَیْتُ وَلَدًا یُصَلِّیْ
او ما ته يې د بركت دعاء وكړه او ويې ويل: ما تر اوسه يو هلک نه وو ليدلى چي لمونځ كوي
فِی الْمُبَارَاةِ وَیَتْرُكُ كَثِیْرٌ مِّنَ النَّاسِ الصَّلٰوةَ فِیْ هٰذَا
په سيالۍ كي او ډېرى خلک لمونځونه پرېږدي په دغه
الْوَقْتِ(٢) فَحَمِدْتُ اللهَ وَشَكَرْتُ اَبِیْ. وَلَا اَتْرُكُ الصَّلٰوةَ
وخت كي، نو زه د الله تعالى حمد وايم او ستا د پلار شخه مننه كوم او زه لمونځ نه پرېږدم
اِذَا كُنْتُ مُسَافِرًا وَاَرٰی كَثِیْرًا مِنَ النَّاسِ یُصَلُّوْنَ
كله چي زه مسافر يم او ما ليدلي دي ډېر خلک لمونځ كوي
فِی الْحَضَرِ وَیَتْرُكُوْنَ الصَّلٰوةَ فِی السَّفَرِ وَیُصَلُّوْنَ
په كور كي او په سفر كي لمونځ پرېږدي او لمونځ كوي
فِی الصَّحَّةِ وَلَا یُصَلُّوْنَ فِی الْمَرَضِ، مَعَ اَنَّ الصَّلٰوةَ
په روغتيا كي او په ناروغۍ كي لمونځ نه كوي، سره له دې چي لمونځ
لَا تَسْقُطُ عَنْ اَحَدٍ. وَاَرٰی كَثِیْرًا مِنَ النَّاسِ
له هيچا شخه نه ساقطيږي. او ما ډېر خلک ليدلي دي چي

---

(١) دغه نو د ښه اولاد گټه ده، دا نو د آخرت لويه سرمايه ده. ١٢ ن

(٢) څومره خلک د لوبو په ځايونو كي خپل فرض لمونځونه قضاء كوي، كله كله يو مباح كار د لمانځه په قضاء كولو سره ځان ته حرام (مكروه تحريمي) كړي. ١٢ ن

لَا يُصَلُّوْنَ بِاعْتِدَالٍ وَسَكِيْنَةٍ وَيُسْرِعُوْنَ كَثِيْرًا (١)
لمونځ په برابرۍ او آرامۍ سره نه کوي او په ډېر تلوار سره يې کوي
وَلَا اَذْكُرُ اَنِّيْ تَرَكْتُ صَلٰوةً فِيْ هٰذِهِ السَّنَوَاتِ
او زما نه په ياديږي چې ما دې لمونځ پرېښی وي په دغه څلورو
الْاَرْبَعِ، وَاِذَا نِمْتُ عَنْهَا اَوْ نَسِيْتُهَا صَلَّيْتُهَا اِذَا
کلونو کې او کله چې له لمانځه څخه زه بيده سوی يم يا مې هېر سوی وي لمونځ کوم کله چې
تَذَكَّرْتُ. وَاِنِّيْ اَسْئَلُ اللّٰهَ تَعَالٰى التَّوْفِيْقَ وَالثَّبَاتَ
را په ياد سي زه له الله تعالی څخه د توفيق او همېشتوب غوښتنه کوم.

(١) يعني داسي په ېېړه او تلوار يې کوي چې بيا يې اعاده واجب وي، ځکه تعديل الارکان پکښي پاته وي، هكذا في رد المحتار. ١٢ ن

اَلْاَسْئِلَةُ (۱)

(۱) متى يؤمر الطفل بأداء الصلوة؟

(۲) كم سورة تحفظ من القرآن الكريم؟

(۳) لو كنت تشاهد مباراة وادركتك صلوة العصر ماذا تفعل؟

(۴) ماذا تقول اذا اصابك خير؟

(۵) رايت صديقك يسرع فى صلوته. بماذا تنصحه؟

ضع كلمة (صحيح) او (خطا) اَمام كل جملة:

لما بلغت الثانية عشرة من عمرى امرنى ابى بالصلوة.

الصلوة فريضة على كل مسلم ومسلمة.

اسئل الله التوفيق والثبات.

---

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(٣)

اَلنَّمْلَةُ (١)

مېږی

طَالَ سَعْيِيْ بِالْاَمَلِ	لَسْتُ اَرْضٰى بِالْكَسَلِ
زما هڅه په هيلو سره اوږده سوه	زه په سستۍ خوښ نه يم
غَايَتِيْ نَيْلُ الطَّلَبِ	لَا اُبَالِيْ بِالتَّعَبِ
زما هدف د خپلي موخي ترلاسه کول دي	زه په ستړيا پروا نه لرم
اَبْتَنِي الْبَيْتَ الْحَسَنِ	بِنِظَامٍ لِلسَّكَنِ
زه ښکلی کور جوړوم	په يو منظم ډول د استوګني لپاره
وَلِقُوْتِيْ اَذْهَبُ	لَسْتُ يَوْمًا اَلْعَبُ
زه د خپل خوراک لپاره کار کوم	زه هيڅ ورځ بې ځايه نه تېروم
كُلَّ صَيْفٍ اَجْمَعُ	لِيْ طَعَامًا يُّشْبِعُ
هر اوړی زه ذخيره کوم	د داسي خوراک لپاره چي ما موړ کړي
فَاِذَا جَآءَ الْمَطَرُ	كَانَ لِيْ بَيْتِيَ الْمَقَرِ (٢)
کله چي باران راسي	زما کور زما د استوګني ځای وي
ذَاكَ شَاْنِيْ فِي الصَّغَرِ	وَنِظَامِيْ فِي الْكِبَرِ
دا زما عادت په کوچنيوالي کي وو	او زما اصول به په لويوالي کي هم وي

---

(١) نملة مېږي ته وايي او نمل بيا د مېږيانو جنس دئ. ١٢ ن

(٢) مقر د قرار نيولو وکور ته ويل کيږي. ١٢ ن

اِنَّنِيْ	نِعْمَ	الْمَثَلِ	بِاجْتِهَادِىْ	فِي الْعَمَلِ
زه يو	غوره	مثال يم	د خپل سخت كار	له امله

(مَبَادِئُ الْقِرَآءَةِ الرَّشِيْدَةِ)

اَلْاَسْئِلَةُ (۱)

(۱) ما غاية النملة من سعيها و بذلها للجهد؟

(۲) عدد بعض الاعمال التى تقوم بها النملة؟

(۳) ماذا نتعلم من النملة؟

(۴) لماذا تجمع النملة طعامها فى الصيف؟

(۵) هل تستطيع ان تحكى لاخوتك قصة تحث على الاجتهاد وترك الكسل؟

ضع الكلمة مناسبة مما يلى مكان النقط:

(ارضى ، العمل ، بالامل ، نعم)

طاب سعى .... لست .... بالكسل

انى .... المثل باجتهادى فى ....

---

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۴)

فِي السُّوْقِ (۱)

په بازار کي

عُمَرُ : هَلْ زُرْتَ سُوْقَ هٰذَا الْبَلَدِ يَا صَدِيقِيْ؟
عمر وويل: اې زما ملګرې! ايا تا د دې بازار څخه ليدنه کړې ده؟
خَالِدٌ: لَا ، يَا اَخِيْ، فَاِنِّيْ غَرِيْبٌ جَدِيْدٌ فِيْ هٰذَا الْبَلَدِ
خالد وويل: نه، اې زما وروره! ځکه په دې بازار کي ډېر نابلده يم
لَا اَعْرِفُ الطَّرِيقَ. عُمَرُ: تَعَالَ مَعِيْ فَاِنِّيْ ذَاهِبٌ
ما ته لار نه ده معلومه. عمر وويل: راځه زما سره، زه ځم
اِلَى السُّوْقِ لِاَشْتَرِيَ بَعْضَ الْحَوَائِجِ وَنَرْجِعُ قَبْلَ
وبازار ته چي ځيني ضروري شيان رانيسم او موږ بيرته راسو مخکي
الْمَغْرِبِ اِنْ شَآءَ اللهُ فَاِنَّ السُّوْقَ غَيْرُ بَعِيْدَةٍ.
د مابنام تر لمانځه که د الله تعالى خوښه وه. ځکه بازار ليري نه دئ

---

(۱) په دې درس کي بازار ته د وتلو طريقه بيانيږي، نو طالب بايد هغه لومړى زده کړي او بيا يې په خپل ژوند کي عملي کړي، بازار ته بايد په همدې طريقه ووزي. ۱۲ ن

خَالِدٌ: مَا شَآءَ اللّٰهُ هٰذِهِ سُوْقٌ كَبِيْرَةٌ وَالدَّكَاكِيْنُ(١)
خالد وويل: ما شاء الله! دا خو يو لوى بازار دئ او دوكانونه
نَظِيْفَةٌ جَمِيْلَةٌ وَمَا هٰذَا الدُّكَّانُ الْجَمِيْلُ اِلَى الْيَمِيْنِ
پاکه او ښکلي دي او دغه راسته طرف ته ښکلى دوكان د څه شي دئ
يَا عُمَرُ؟ عُمَرُ: هٰذَا دُكَّانُ فَاكِهَانِيٍّ، اَلَا تَرٰى
اي عمره؟ عمر وويل: دا د مېوه پلورونكي دوكان دئ ايا ته نه ګورې
اِلَى الْفَوَاكِهِ وَتَرَى النَّاسَ يُسَاوِمُوْنَ الْفَاكِهَانِيَّ
و مېوو ته، او دا خلګو ته نه ګورې چې له مېوه پلورونكي څخه سودا كوي
فِيْهَا. خَالِدٌ : اَنَا اُرِيْدُ اَنْ اَشْتَرِىَ شَيْئًا
په هغه كې. خالد وويل: زه غواړم يو شى رانيسم
مِّنَ الْفَوَاكِهِ، الْمَوْزَ وَالْجَوَّافَةَ وَالْبُرْتُقَالَ، فَاِنِّىْ
له مېوو څخه. كېله، امرود او مالته... ځكه چې
اُرِيْدُ اَنْ اَدْعُوَ بَعْضَ الْاِخْوَانِ اِلَى الْفُطُوْرِ بُكْرَةً.
زه غواړم چې سبا ځيني ورونه سهارنۍ (سبا نهاري) ته را وغواړم.

(١) دكاكين جمع د دكان ده او د كان د خرخولو او رانيولو ځاى ته ويل كيږي، هكذا في معجم الوسيط والمنجد. البته په پښتو كې د پښتو د معيار مطابق دوكان ليكل كيږي. ١٢ ن

عُمَرُ: اَلْجَوَّافَةُ غَالِيَةٌ جِدًّا فِيْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ

عمر وويل: په دې ورځو کې امرود ډېر ګران دي

وَالْبُرْتُقَالُ حَامِضٌ وَلَا بَأْسَ بِالْمَوْزِ. خَالِدٌ: تَفَضَّلْ

او مالټې تروې وي خو کېله بده نه ده. خالد وويل: مهرباني وکړه

يَا اَخِيْ نُسَاوِمُ الْفَاكِهَانِيَّ. عُمَرُ: اَحْسَنُ اَنْ نَّشْتَرِيَ

اې زما وروره له مېوه فروش څخه سودا وکړو. عمر وويل: ښه دا ده چې موږ رانيسو

الْفَوَاكِهَ مِنْ سُوْقِ الْخُضَرِ بُكْرَةً فَاِنَّ الْفَوَاكِهَ

مېوې، سبا د سبزيجاتو له بازار څخه ځکه چې مېوې

وَالثِّمَارَ فِيْهَا كَثِيْرَةٌ وَرَخِيْصَةٌ. خَالِدٌ: هٰذَا هُوَ

او حاصلات هلته زيات دي او ارزانه دي. خالد وويل: دا ښه

الرَّأْيُ، وَمَا هٰذِهِ الدَّكَاكِيْنُ يَا عُمَرُ؟ عُمَرُ: هٰذِهِ

نظر دئ. او دغه دوکانونه دي څه شي دي اې عمره؟ عمر: وويل: دغه

دَكَاكِيْنُ الْقُمَاشِ، اَلَا تَرٰى كَيْفَ بَسَطُوْا اَنْوَاعًا

دوکانونه د ټوکرانو دي، ايا ته نه وينې چې څنګه يې غوړولي دي ډول ډول

مِنَ الْقُمَاشِ وَكَيْفَ يَلْمَسُهَا النَّاسُ وَيُسَاوِمُوْنَ

ټوکران او خلک هغه څنګه لمس کوي او سودا کوي

فِيْهَا التَّجَارِ، تَعَالَ فَاِنِّيْ اُرِيْدُ اَنْ اَشْتَرِيَ حِذَاءًا

په هغو کي سوداګر. راځه زه غواړم بوټونه رانيسم

خَالِدٌ: تَفَضَّلْ فَاِنِّيْ صَاحِبُكَ. عُمَرُ: مِنْ فَضْلِكَ اَخْرِجْ

خالد وويل: مهرباني وکړه زه دي ملګرى يم. عمر وويل: مهرباني وکړه راوباسه

لِيْ حِذَاءًا مُّطَابِقًا. صَاحِبُ الدُّكَّانِ: هٰذَا حِذَاءٌ

ما ته يوه جوړه ښه بوټونه. دوکاندار وويل: دغه بوټونه

جَمِيْلٌ وَمَتِيْنٌ. عُمَرُ: نَعَمْ وَلٰكِنَّهُ وَاسِعٌ قَلِيْلًا.

ښکلي او ټينګ دي. عمر وويل: هو لېکن دا يو څه پراخ (لوى) دي

صَاحِبُ الدُّكَّانِ: وَهٰذَا الْاٰخَرُ مُطَابِقٌ تَمَامًا.

دوکاندار وويل: دغه بل بشپړ مناسب بوټ دئ

عُمَرُ: بِكَمْ هُوَ؟ صَاحِبُ الدُّكَّانِ: بِسِتِّ رُبِّيَّاتٍ(۱).

عمر وويل: په څو دئ دا؟ دوکاندار وويل: په شپږ روپۍ دئ.

عُمَرُ: اَلَا تَنْزِلُ فِي الثَّمَنِ؟ صَاحِبُ الدُّكَّانِ:

عمر وويل: په پيسو کي يو څه نه راکښته کېږي؟ دوکاندار وويل:

لَنْ تَجِدَ يَا سَيِّدِيْ اَرْخَصَ مِنْ هٰذَا فِي السُّوْقِ.

صاحبه! ته به يې په بازار کي تر دي ارزانه پيدا نه کړې

(۱) روبيات د روبيٌّ جمع ده، روبي يعني روپۍ، په عربي کي پا په با بدليږي. ۱۲ ن

عُمَرُ: أُصَدِّقُكَ لِاَنَّكَ مُسْلِمٌ وَالْمُسْلِمُ لَا يَكْذِبُ

عمر وويل: زه ستا خبره منم ځکه ته مسلمان یې او مسلمان دروا‌غ نه وايي

وَلَا يَغُشُّ. خَالِدٌ: وَمَا هٰذَا الْمَكَانُ الَّذِي يَأْكُلُ فِيْهِ

او نه خيانت کوي. خالد وويل: دغه کوم ځای دئ چي په هغه کي خوراک کوي

النَّاسُ؟ عُمَرُ: هٰذَا مَطْعَمٌ يَأْكُلُ فِيْهِ النَّاسُ

خلک؟ عمر وويل: دا رستورانت (خوړن ځای) دئ په دې کي خلک خوراک کوي

وَالْمَطَاعِمُ فِي الْبَلَدِ كَثِيْرَةٌ. خَالِدٌ: مَا لِيْ لَمْ اَرَ مَطْعَمًا

او خوړن ځایونه په ښار کي زيات دي. خالد وويل: زه ولي خوړن ځای نه ویم

فِي الْقَرْيَةِ؟ عُمَرُ: لِاَنَّ الْبَلَدَ فِيْهِ غُرَبَاءُ وَمُسَافِرُوْنَ

په کلي دي؟ عمر وويل: ځکه چي په ښار کي نابلده خلک او مسافر سته

لَيْسَ لَهُمْ بُيُوْتٌ يُقِيْمُوْنَ فِيْهَا وَيَأْكُلُوْنَ فِيْهَا،

دوی کورونه نه لري چي پکښي واوسیږي او خوراک پکښي وکړي

فَيَأْكُلُوْنَ فِي الْمَطَاعِمِ، اَمَّا الْقَرْيَةُ فَالْغَرِيْبُ فِيْهَا

نو دوی په خوړن ځایونو کي خوراک کوي. کوم چي کلی دئ نو په هغه کي نابلده خلک

قَلِيْلٌ فَلَا حَاجَةَ فِي الْقَرْيَةِ اِلَى الْمَطْعَمِ. خَالِدٌ: وَاَيْنَ

کم وي، نو په کلي کي و خوړن ځای ته ضرورت نه وي. خالد وويل: او چيري

نَجِدُ الْوَرَقَ وَالْحِبْرَ وَالْقَلَمَ وَالْمِرْسَمَ وَالنَّشَافَةَ
به پيدا كړو كاغذ، رنګ، پنسيل نشافه (يو ډول جذبوونكى كاغذ)
وَاَدَوَاتِ الْكِتَابَةِ؟ (١) عُمَرُ: هٰذَا دُكَّانُ وَرَّاقٍ (٢) تَجِدُ فِيْهِ
او د ليكلو وسائل؟ عمر وويل: دغه دوكان د كاغذونو دئ، په دې كې به پيدا كړې
جَمِيْعَ حَوَائِجِ الْمَدْرَسَةِ. خَالِدٌ: اَشْكُرُكَ يَا صَدِيْقِي
د مدرسې د ضرورت ټول شيان. خالد وويل: ستا څخه مننه كوم اې زما قدرمن
الْكَرِيْمَ فَقَدْ اَفَدْتَّنِيْ كَثِيْرًا، وَاَرٰى اَنْ تَرْجِعَ
ملګرې، تا زما كار ډېر آسانه كړ. او زه فكر كوم چې ستانه سو
الْآنَ اِلَى الْبَيْتِ وَنُصَلِّي الْمَغْرِبَ هُنَا.
اوس وكور ته او د ماښام لمونځ هلته اداء كړو.
عُمَرُ: نَعَمْ وَمَا بَقِيَ لِيْ شُغْلٌ.
عمر وويل: هو، او زه نور كار نه لرم.

(١) دا ټول هغه وسائل دي چې طالب العلم ورته ضرورت دي او د دې هره عربي نوم بايد ښه ياد كړل سي. ١٢ ن

(٢) يعني كتاب او قلم فروشي يا قرطاسيه. ١٢ ن

اَلْاَسْئِلَةُ(١)

(١) ماذا تشترى من السوق؟

(٢) عدد ثلاثة انواع من الفواكه؟

(٣) ما صفات الحذاء الذى يشتريه لك ابوك؟

(٤) بم يتصف البائع المسلم؟

صحح الخطأ فى الجمل التالية:

يشترى سعيد الموز من عند تاجر الاقمشة.

نتلقى الدروس فى المدرسة من الآباء.

المطاعم فى المدينة قليلة.

---

(١) محترم استاذ دي له شاگردانو څخه د دې سوالونو تر څنگه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاگردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٥)

اَلطَّائِرُ

مرغه

اَلْحَبْسُ لَيْسَ مَذْهَبِيْ	وَلَيْسَ فِيْهِ طَرَبِيْ
بند زما مذهب نه دئ	او په دې کې زما هيڅ لېوالتيا نه ده
فَلَسْتُ اَرْضٰى قَفَصًا	وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْ ذَهَبِ
زه په قفص خوښ نه يم	که څه هم د سرو زرو وي
غَابَاتُ رَبِّيْ غَايَتِيْ	وَالْعَيْشُ فِيْهَا مَطْلَبِيْ
زما هدف زما د رب ځنګلونه دي	ژوند په هغو زما غوښتنه ده
قَدْ طَابَ فِيْهَا مَطْعَمِيْ	وَرَاقَ فِيْهَا مَشْرَبِيْ
په هغو کې زما خواړه ما خوشحاله کوي	او په هغو کې زما څښاک تازه دئ
اَذْهَبُ فِيْهَا اَسْتَقِيْ	مِنْ مَّآءِ نَبْعٍ اَعْذَبِ
زه هلته ځم او اوبه څښم	له سر چينې څخه تازه
اَصْدَحُ فِيْهَا مُطْلَقًا	فَالْحَبْسُ لَيْسَ مَذْهَبِيْ
زه هلته په پوره آزادۍ ږغېږم	نو بند زما مذهب نه دئ

(مَدَارِجُ الْقِرَاءَةِ)

اَلْاَسْئِلَةُ[١]

(١) هل يحب الطائر البقاء محبوسًا فی القفص؟

(٢) ما غاية الطائر وما مطلبه؟

(٣) اين يطيب العيش للطائر؟

(٤) ضع عُنوانًا[٢] للنص.

(٥) ما الحكمة التی نطق بها الطائر؟

من انا؟

اطير فی الفضاء واحب العيش فی الغابات والبساتين وصوتی جميل.

تتلقون منی الدروس المفيدة،

فتزدادون علمًا وفهمًا. تحضرون اِلَیَّ كل صباح لتأخذوا العلم،

وتتزودوا بالثقافة النافعة.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٢) موږ هر ځای ليکلي دي چي عُنوان د عين په ضمه سره دئ، نه په کسره سره. ١٢ ن

(٦)

نُزْهَةٌ وَطَبْخٌ (١)

مېله او اشپزي

كَانَ يَوْمُ الثُّلَاثَاءِ الْمَاضِيْ يَوْمَ عُطْلَةٍ فِي الْمَدْرَسَةِ.
تېره د سې شنبې ورځ په مدرسه کې د رخصتۍ ورځ وه
جَآءَ اِلَيَّ دَاؤُدُ صَبَاحًا وَقَالَ: اَلْيَوْمُ يَوْمُ الْعُطْلَةِ
سهار مهال ما ته راؤد راغلی او ويې ويل: نن ورځ د رخصتۍ ورځ ده
اَلَا نَخْرُجُ اِلٰى بُسْتَانٍ ، اَوْ مَكَانٍ فِيْ ضَوَاحِي الْمَدِيْنَةِ
ايا موږ د ښار په شاؤخوا کې يو باغ يا کوم ځای ته نه وزو،
نَرْتَعُ وَنَلْعَبُ، وَنَطْبَخُ مِنَ الطَّعَامِ مَا نَشْتَهِيْ
چې تفريح وکړو، لوبې وکړو او هغه خواړه پاخه کړو چې اشتهاء مو ورته کيږي
وَنَأْكُلُ، وَنَرْجِعُ فِي الْمَسَآءِ، قُلْتُ: هُوَ كَذٰلِكَ، وَاَنَا
او ويې خورو، او بيرته به ماښام راوګرځو. همداسې ده، او ما

(١) په دې درس کې طالب العلم ته د رخصتيو په ورځو کې د مېلې ته تللو طريقه ورښيې، نو شاګردان بايد هغه زده او عملي کړي. ١٢ ن

كُنْتُ اُفَكِّرُ اَيْضًا كَيْفَ اَقْضِيْ هٰذَا الْيَوْمَ، وَلٰكِنْ
هم همدا فكر كاوه چي ځكه به دغه ورځ تېروم، مګر
كَلَّمَ اَخَاكَ سُلَيْمَانَ وَالْاَخَ هَاشِمًا وَالسَّيِّدَ عُمَرَ
ته له خپل ورور سليمان او هاشم ورور او عمر صاحب سره خبري وكړې
لَعَلَّهُمْ يَخْرُجُوْنَ مَعَنَا. وَافَقَ دَاوُدُ عَلٰى ذٰلِكَ
كېداى سي هغوى هم زموږ سره ووزي. داؤد پر دې موافقه وكړه
وَكَلَّمَهُمْ، وَفَرِحُوْا جِدًّا وَجَاؤُوْا اِلٰى بَيْتِيْ مِنْ
او له هغوى سره يې خبري وكړې او هغوى ډېر خوشحاله سول او هغوى زما كور ته راغلل
سَاعَتِهِمْ، وَجَآءَ صَدِيْقُنَا خَالِدٌ فَفَرِحْنَا بِهٖ
په هغه وخت كي او زما ملګرى خالد راغلى او موږ په هغه ډېر خوشحاله سوو
وَقُلْنَا: مَرْحَبًا. اِجْتَمَعْنَا وَقُلْنَا: هَلْ نَقْصِدُ بُسْتَانًا
او موږ ورته وويل: ښه راغلې، سره يو ځاى سوو او موږ وويل: ايا موږ مقصد يو باغ دئ
مِنْ بَسَاتِيْنِ الْمَدِيْنَةِ اَوْ نَتَوَجَّهُ اِلٰى ضَاحِيَةٍ مِنْ
د ښار له باغونو څخه يا كه موږ يوې ګوښې ته مخه كوو
ضَوَاحِي الْمَدِيْنَةِ؟ قَالَ دَاوُدُ وَعُمَرُ: بَلْ نَقْصِدُ
د ښار له ګوښو څخه؟ داؤد او عمر وويل: بلكي زموږ اراده ده

الْبُسْتَانَ الْكَبِيْرَ فِيْ وَسَطِ الْمَدِيْنَةِ. فَاِنَّ الْبُسْتَانَ

د ښار په منځ و يوه غټ باغ ته، ځکه چي باغ

قَرِيْبٌ فَلَا يَضِيْعُ وَقْتُنَا فِي الذَّهَابِ اِلٰى ضَاحِيَةٍ

نږدې دئ نو موږ به ويوې ګوښې ته په تګ کي خپل وخت نه ضايع کوو

مِّنْ ضَوَاحِي الْبَلَدِ. وَقَالَ سُلَيْمَانُ وَهَاشِمٌ وَاَنَا مَعَهُمَا:

د ښار له ګوښو څخه. او سليمان او هاشم چي زه هم د دوی سره وم، وويل:

بَلْ نَتَوَجَّهُ اِلٰى بَعْضِ الضَّوَاحِيْ لِاَنَّا نُرِيْدُ اَنْ نَّطْبَخَ

بلکي موږ يوې ګوښې ته مخه کوو (ځو) ځکه موږ غواړو چي پاخه کړو

الطَّعَامَ وَنَقْضِيَ النَّهَارَ فِي النُّزْهَةِ وَالطَّبْخِ. فَاسْتَقَرَّ

خواړه او موږ ورځ په مېله او اشپزۍ (پخلي) تېره کړو. نو وټاکل سوه

رَأْيُنَا عَلَى الذَّهَابِ اِلَى الضَّاحِيَةِ. فَاكْتَرَيْنَا مَرْكَبَةً

زموږ نظر په تګ کي و يوې ګوښې ته، نو موږ يو موټر کرايه کړ

وَوَصَلْنَا مِنْ سَاعَتِنَا اِلَى الضَّاحِيَةِ. وَكُنَّا اَخَذْنَا

او موږ په يوه ساعت کي و يوې ګوښې (وتلې ساحې) ته ورسېدو موږ راخيستې وې

مَعَنَا الرُّزَّ وَاللَّحْمَ وَالتَّوَابِلَ وَالسَّمْنَ وَالْخُضَرَ وَ

له خپلو ځانو سره وريجې، غوښې، مصالحې، غوړي او سبزيجات او

اَخَذْنَا قِدْرَيْنِ وَاَوَانِيَ⁽¹⁾ وَكُنَّا عَلِمْنَا اَنَّ فِي الْمَحَلِّ خَبَّازًا
موږ دوې کټوي او لوښي را اخيستي وه او موږ پوهېدو چي په هغه ځای کي يو نانوای دئ
فَقُلْنَا نَشْتَرِي الرَّغِيْفَ⁽²⁾ فَاِنَّ الرَّغِيْفَ فِيْهِ تَعَبٌ.
موږ وويل چي ډوډۍ به رانيسو ځکه په هغه ځای کي ډوډۍ ارزانه ده
اخْتَرْنَا مَكَانًا ظَلِيْلًا وَكَانَ السَّيِّدُ عُمَرُ وَالسَّيِّدُ هَاشِمٌ
موږ يو سايه لرونکی ځای غوره کړ او عمر صاحب او هاشم صاحب
يُحْسِنَانِ الطَّبْخَ فَتَوَلَّيَا اَمْرَ الطَّبْخِ وَسَاعَدَهُمَا
ښه اشپزي کوله، دوی د اشپزۍ مسئوليت واخيست او د دوی کومک وکړ
دَاؤُدُ وَسُلَيْمَانُ. وَتَوَلَّيْتُ اَمْرَ الْحَطَبِ فَذَهَبْتُ اِلَى
داؤد او سليمان. او ما د لرګيو راټولولو کار پر غاړه واخيست نو زه ولاړم و
الْغَابَةِ الْقَرِيْبَةِ وَجِئْتُ بِالْحَطَبِ مِنْ سَاعَتِيْ، وَدَقَّ
نژدي ځنګل ته او په څو شېبو کي مي لرګي راوړل او سره ګډولي
خَالِدٌ التَّوَابِلَ وَذَهَبْتُ اَنَا اِلَى الْخَبَّازِ فَاشْتَرَيْتُ
خالد مصالحي او زه و نانوای ته ورغلم او ما رانيوله

(۱) دا د ځينو مهمو لوښو نومونه دي چي بايد ياد کړل سي. ۱۲ ن

(۲) رغيف هغه ډوډۍ ته ويل کيږي چي په تنور کي پخه سوې وي. ۱۲ ن

الْاَرْغِفَةَ. وَاَدْرَكَ الطَّعَامُ فِي السَّاعَةِ الْحَادِيَةَ عَشَرَةَ
ډوډۍ، او خواړه پر يوولس (١١) بجې تيار سول
وَقَدْ غَلَبَنَا الْجُوْعُ وَاشْتَهَيْنَا الطَّعَامَ فَاَكَلْنَا بِرَغْبَةٍ
او پر موږ لوږې غالبه سوې وه او خوړو ته مو هوا کېدل نو په لېوالتيا مو وخوړله
وَكَانَ الطَّعَامُ شَهِيًّا لَذِيْذًا. وَجَلَسْنَا نَتَحَدَّثُ حَتّٰى
او خواړه ډېر خوندور وه، او موږ کښېنستو او خبرې اترې مو کولې تر څو چې
كَانَ وَقْتُ الظُّهْرِ (١) فَاَذَّنْتُ وَصَلَّيْنَا جَمَاعَةً. وَخَرَجْنَا
د ماپښين وخت سو، نو ما آذان وکړ او لمونځ مو په جماعت سره وکړ او راووتلو
بَعْدَ الصَّلٰوةِ نَزُوْرُ بَعْضَ الْاٰثَارِ، وَفِي الْعَصْرِ رَجَعْنَا
تر لمانځه وروسته چې ځيني تاريخي ځايونه ووينو او په ماځيګر کې راوګرځېدلو
اِلَى الْبَلَدِ مَسْرُوْرِيْنَ.
و ښار ته خوشحاله.

(١) ظهر د ظاء په ضمه سره و ماپښين ته وايي او په کسره سره ښا (ملا) ته وايي. ١٢ ن

اَلْاَسْئِلَةُ (۱)

(۱) ما اسم يوم العطلة فى المكان الذى تتعلم فيه؟

(۲) ماذا تفعل فى النزهة؟

(۳) اذكر بعض الحاجيات التى ياخذها الناس معهم فى نزهتهم.

(۴) لماذا يتنزه الناس؟

(۵) يتعاون الناس فى النزهة، ماذا تحب ان تعمل فى نزهتك مع اهلك؟

اخترع من العمود الايسر ما يناسب كل عبارة من العمود الايمن:

نخرج الى البستان	فاكلنا برغبة
اخذنا معنا	نزور بعض الآثار
اشتهينا الطعام	من اجل النزهة
خرجنا بعد الصلوة	الرز واللحم والخضراوات

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۷)

مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟ (۱)

څوک به دي زما څخه خلاص کړي؟

خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ غَزْوَةٍ، هَلْ تَعْرِفُوْنَ
رسول الله صلى الله عليه وعلى آله واصحابه وسلم په يوه جګړه کي ګډون وکړ. ايا تاسو پوهېږئ
مَا هِيَ الْغَزْوَةُ؟ لَعَلَّكُمْ تَعْلَمُوْنَ اَنَّ الْمُسْلِمِيْنَ
چي غزوه (غزا) څه ده؟ ښايي تاسو پوهېږئ چي مسلمانان
كَانُوْا يَخْرُجُوْنَ لِلْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَكَانُوْا
به د الله تعالى په لاره کي د جهاد لپاره وتله او دوى به
يُقَاتِلُوْنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَالْكُفَّارَ لِوَجْهِ اللهِ تَعَالٰى
د الله تعالى د رضا لپاره له مشركانو او كافرانو سره جنګېدله
وَلَعَلَّكُمْ تَعْلَمُوْنَ فَضِيْلَةَ الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ؟
او ښايي تاسو د الله تعالى په لاره کي د جهاد په فضيلت پوهېږئ
وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْرُجُ اَحْيَانًا مَعَ الْمُسْلِمِيْنَ
او رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم به كله كله له مسلمانانو سره وتى

(۱) په دي حكايت کي د پيغمبر صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم غوره اخلاق ښودل كيږي، چي د پيغمبر صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم په ښو اخلاقو سره څومره خلګو اسلام قبول کړی دئ. ۱۲ ن

وَاَحْيَانًا يَمْكُثُ فِى الْمَدِيْنَةِ لِشُغْلٍ اَوْ مَصْلَحَةٍ
او کله کله به په مدينه منوره کي پاته کېدى د يوه يا يوې اصلاح لپاره
وَيَبْعَثُ جُنْدًا مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ. فَالْغَزْوَةُ مَا خَرَجَ
او د مسلمانانو يو لښکر به يې استاوه، نو غزا هغه ده چي وتلى وي
فِيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِىْ جُنْدٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ
په هغه کي رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم د مسلمانانو له لښکر سره
لِلْجِهَادِ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ. نَعَمْ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
چي د الله تعالى په لاره کي جهاد وکړي. هو! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ووتى
ﷺ فِىْ غَزْوَةٍ وَرَجَعَ عَنْهَا فِى الظَّهِيْرَةِ وَكَانَتْ
په يوه غزا کي او له غزا څخه په غرمه کي راوګرځېدى او دا
اَيَّامُ الصَّيْفِ فَاَرَادَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ
د دوبي (ګرمۍ) ورځي وي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اراده وکړه چي
يَّسْتَرِيْحَ. وَلَيْسَ فِى الْبَرِّيَّةِ مَكَانٌ يَسْتَرِيْحُ فِيْهِ
استراحت وکړي او په صحرا (دښته) کي داسي ځاى نه وي چي هغه کي انسان
الْاِنْسَانُ اِلَّا الشَّجَرُ. وَلَيْسَ فِى الْبَرِّيَّةِ فِىْ بِلَادِ
استراحت وکړي، مګر وني (درختي) او نه وي په صحراؤ کي د ښارونو
الْعَرَبِ شَجَرٌ كَثِيْرٌ وَلَيْسَ فِيْهَا اِلَّا السَّمُرُ.
د عربو ډېري وني او هلته له سموره ونو پرته نوري وني هم نه وي

فَنَزَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ تَحْتَ سَمُرَةٍ وَعَلَّقَ بِهَا

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم تر سموره وني لاندي را کښته سو او په هغه کي يې وځړوله

سَيْفَهُ، وَتَفَرَّقَ النَّاسُ وَنَامُوْا، وَنَامَ رَسُوْلُ اللهِ

بِرَصَاصَتَيْنِ، وَكَانَ عِنْدِي سِكِّيْنٌ صَغِيْرٌ حَادٌّ
په دوو مرميو، او زما سره يو كوچنى تېره چاقو راسره وو
فَذَبَحْتُ الْبَطَّتَيْنِ، وَسَمَّيْتُ اللهَ وَكَبَّرْتُ. وَقُلْتُ
نو ما هيلۍ حلالې کړې او د الله نوم مې ياد کړ او تکبير مې ووايه او ومې ويل
لِلسَّيِّدِ اِسْمَاعِيْلَ: اَنَا اُرِيْدُ اَنْ اَصِيْدَ اَيْضًا. فَاَعْطَانِيْ
و ښاغلي اسماعيل ته چې زه هم غواړم چې ښکار وکړم، نو ما ته يې راکړ
بُنْدُقِيَّتَهُ وَوَضَعَ فِيْهَا رَصَاصَةً، وَكُنْتُ اَعْرِفُ
ټوپک خپل او په هغه کې يې مرمۍ كښېښوده او زه پوهېدم چې
كَيْفَ اُصَوِّبُ الْبُنْدُقِيَّةَ وَكَيْفَ اُطْلِقُهَا، لِاَنِّيْ اَطْلَقْتُ
څه ډول ټوپک برابر كړم او څنګه ټک په وكړم ځكه چې ما چلولى وو
الْبُنْدُقِيَّةَ اَرْبَعَ مَرَّاتٍ اَوْ خَمْسَ مَرَّاتٍ، فَذَهَبْتُ
ټوپک څلور يا پنځه واره ، نو زه ولاړم
وَجَلَسْتُ بِالْمِرْصَادِ، وَجَآءَ حَمَامٌ وَوَقَعَ عَلٰى شَجَرَةٍ
او په څار ځاى کې كښېنستم او يوه كوتره راغله او پر ونه كښېنسته
قَرِيْبَةٍ، وَصَوَّبْتُ بُنْدُقِيَّتِيْ نَحْوَ الْحَمَامِ، وَاَطْلَقْتُ
چې نژدې وه، او ما مې خپل ټوپک د كوترې پر طرف برابر كړ او ټک مې وكړ

الْبُنْدُقِيَّةَ، فَاَصَبْتُ حَمَامَتَيْنِ وَفَرِحْتُ جِدًّا
په ټوپک، نو دوې کوترې ولګېدې او زه ډېر خوشحاله سوم
لَمَّا اَصَبْتُ الْحَمَامَتَيْنِ وَكَبَّرْتُ مِنَ الْفَرَحِ.
چې کله مې دوې کوترې وويشتلې او له خوښۍ مې تکبير وواېه
وَجَآءَ الْاِخْوَانُ وَقَالُوْا: مَرْحٰى، مَرْحٰى، وَقَالُوْا:
او ملګري مې راغلل او ويې ويل: افرين افرين، او ويې ويل:
مَا شَآءَ اللّٰهُ اِنَّ خَالِدًا صَيَّادٌ. وَمَا رَضِيْتُ اَنْ
ما شاء الله، خالد خو په رښتيا چې ښکاري دئ او زما نه وه خوښه چې
يَّذْبَحَهُمَا اَحَدٌ، فَذَهَبْتُ وَسَمَّيْتُ اللّٰهَ وَذَبَحْتُ
کوترې بل څوک حلالې کړې، نو زه ورغلم د الله نوم مې ياد کړ او کوترې مې
الْحَمَامَتَيْنِ بِسِكِّيْنِي الصَّغِيْرِ الْحَادِّ(١)، وَرَجَعْنَا
حلالې کړې په خپل کوچني تېره چاقو سره، او موږ ستانه سوو
اِلَى الْقَرْيَةِ فِي الْمَسَآءِ بِصَيْدٍ كَثِيْرٍ، وَقَطَعَتِ
وکلي ته په ماښام کې چې زموږ سره ډېر ښکار وو، او بيا مو
الْبَقَرَةُ قِطَعًا قِطَعًا، وَاَهْدَيْنَا لَحْمَهَا اِلٰى جَمِيْعِ
غوا ټوټه ټوټه کړه او غوښې مو يې ووېشلې پر ټولو

(١) حاد تېره او تېز ته وايي. ١٢ ن

الْاَصْدِقَاءِ	وَالْاَقَارِبِ	وَاَهْلِ	الْقَرْيَةِ[۱] ،	فَاَكَلُوْا	
ملګرو او خپلوانو او د كلي پر خلګو باندي ، نو هغوى وخوړلې					
وَشَبِعُوْا	وَشَكَرُوا	الصَّيَّادِيْنَ.			
او ځانونه يې ماړه كړل او د ښكاريانو څخه يې مننه وكړه					

اَلْاَسْئِلَةُ[۲]

(۱) عدد الحاجيات التى اخذها الصيادون معهم.

(۲) ماذا صاد اسماعيل؟

(۳) الذى يذبح بهيمة ماذا يقول؟

(۴) لمن اهدى اللحم؟

(۵) ضع عُنوانًا آخر للنص.

استخرج من المقطع الاول حالًا، واذكر صاحبه.

(۱) دا خو ډېر ښه ښكار سو چي غوښي يې خيرات او صدقه كړې. ۱۲ ن

(۲) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو كي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۱۵)

مَأْدُبَةٌ (۱)

مېلمستيا

رَجَعَ اَخِيْ مِنَ الْحَجِّ، فَفَرِحَ اَهْلُ الْبَيْتِ كَثِيْرًا
زما ورور له حجه راستون شو، نو د کورنۍ ټول غړي ډېر خوشحاله سول
وَفَرِحَتْ اُمِّيْ جِدًّا، وَصَنَعَتْ اُمِّيْ طَعَامًا وَدَعَتْ
زما مور ډېره زياته خوښه وه، نو هغې ډوډۍ پخه کړه او را ويې غوښتله
اِلَيْهِ الْاَقَارِبَ وَالْاَصْدِقَاءَ وَكَثِيْرًا مِنْ اَهْلِ الْقَرْيَةِ.
هغې ته خپلوان ، ملګري او ډېرى د کلي اوسېدونکي
وَفَرِحْنَا جِدًّا، وَفَرَشْنَا فِرَاشًا نَظِيْفًا اَمَامَ الْبَيْتِ
او موږ ډېر خوشحاله وو او موږ د کور مخې ته پاک فرش وغوړوى
وَكَانَتْ اَيَّامُ صَيْفٍ، وَوَضَعْنَا اَبَارِيْقَ فِيْهَا مَآءٌ
او دا د دوبي ورځې وې، موږ اودانونه (آبدانونه) کښېښول چې اوبه پکښې وې
لِغَسْلِ الْاَيْدِىْ، وَوَضَعْنَا صَابُوْنًا وَمِنْشَفَةً
د لاسو د پرېولو لپاره او صابون او دسمال مو ورسره کښېښودل

(۱) په دې درس کې و شاګردانو ته د مېلمستيا طريقه او تګلاره ورښيي او داسې طريقه ورښيي چې سنت طريقې پکښې نغښتې دي. ۱۲ ن

وَبَسَطْنَا سُفْرَةً وَّاسِعَةً، حَضَرَ النَّاسُ فِي الْمَسَآءِ،

او موږ يو پراخ سترخان وغوړوی، خلک د ماښام په وخت کي راورسېدل

فَاسْتَقْبَلَهُمْ اَخِيْ وَقُلْنَا: مَرْحَبًا وَجَلَسُوْا قَلِيْلًا

نو زما ورور دهغوی استقبال وکړ او ويې ويل: په خير راسئ، هغوی څه وخت کښېنستل

وَحَضَرَ الطَّعَامُ، فَجَلَسَ الضُّيُوْفُ حَوْلَ السُّفْرَةِ،

او بيا ډوډی راوړل سوه، نو مېلمانه د سترخان پر شاؤخوا کښېنستل

وَقَدَّمْنَا الرَّغِيْفَ الْحَارَّ وَاللَّحْمَ وَالرُّزَّ فِيْ صُحُوْنٍ

او موږ ورته ګرمه ډوډی، غوښي او وريجي په لوښو کي ورته راوړي

وَالرَّائِبَ فِيْ اَقْدَاحٍ، فَسَمَّوُا اللهَ وَاَكَلُوْا. وَكُنَّا

او شلومبي په کاسو کي وي، هغوی بسم الله وويل او خوراک يې وکړ. او موږ

قَائِمِيْنَ نُلَاحِظُ الضُّيُوْفَ، وَنُقَدِّمُ لَهُمُ الْخُبْزَ

ولاړ وو چي د مېلمنو خدمت وکړو او هغوی ته مو ډوډی وړاندي کوله

وَالطَّعَامَ وَنَسْقِيْهِمُ الْمَآءَ الْمَثْلُوْجَ، وَاَصَابَ

او ډوډی مو راوړله او يخي کړل سوي اوبه مو راوړي او خلکو

النَّاسَ مِنْ كُلِّ نَوْعٍ مِنَ الطَّعَامِ وَاَكَلُوْا بِرَغْبَةٍ

ته هر ډول خواړه رسېدله او هغوی په خوند سره خوړله

وَّحَمِدُوا اللّٰهَ. وَقَامُوْا وَغَسَلُوْا اَيْدِيَهُمْ وَمَسَحُوْهَا
او د الله تعالی حمد یې وایه. وروسته ولاړ سول او خپل لاسونه یې ومینځل او وچ یې کړل
بِالْمِنْشَفَةِ، وَجَلَسُوْا اِلٰى اَخِيْ يَتَحَدَّثُوْنَ وَيَتَكَلَّمُوْنَ
په دسمال سره، او بیا زما له ورور سره کښېنستل او خبري اتري او قصې یې سره کولې
وَيَسْمَعُوْنَ مِنْهُ اَخْبَارَ الْحِجَازِ وَحَدِيْثَ مَكَّةَ
له هغه شخه یې د حجاز خبرونه او د مکې معظمې خبري اورېدلې
الْمُشَرَّفَةِ وَالْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ وَمِنًى وَعَرَفَاتٍ
او د مدینې منورې او منٰی او عرفات قصې یې په ډېري
بِكُلِّ رَغْبَةٍ وَّسُرُوْرٍ، وَاشْتَاقُوْا اِلَى الْحَجِّ، وَدَعَوُا
مینې او خوښۍ سره اورېدلې او وحج کولو ته یې زړه کېدی او شوقمن وه او دعاء یې کوله
اللّٰهَ اَنْ يُّوَفِّقَهُمْ لِذٰلِكَ. ثُمَّ اسْتَأْذَنُوْا لِلْخُرُوْجِ
الله تعالی چې دوی ته هم د حج توفیق ورکړي، وروسته یې د وتلو اجازه وغوښتله
وَقَامُوْا يَقُوْلُوْنَ: اَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُوْنَ،
او ولاړ سول، ویې ویل: الله دي ستاسو شخه روژه نیوونکو ته روژه ماتی ورکړي
وَاَكَلَ طَعَامَكُمُ الْاَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ.
او نېکان دي ستاسو ډوډۍ وخوري او پر تاسو دي ملائکې رحمت ووایې.

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) متى يحج الناس الى بيت الله الحرام؟

(٢) لماذا صنعت الام مادبة الطعام؟

(٣) عدد انواع الطعام الموجود على المائدة.

(٤) ماذا يقول الذى يشبع من طعامه؟

(٥) ماذا قال الضيوف بعد ان اكلوا؟

ادخل على كل من الجمل التالية فعلًا ناقصًا:

.... ابى يرحب بالضيوف.

.... الماء ثلجًا.

.... نقدم الخبز والطعام.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(١٦)

بِرُّ الْوَالِدَيْنِ (١)

له مور او پلار سره نيكي

كَانَ رَجُلٌ لَهُ اَبَوَانِ كَبِيْرَانِ وَاَوْلَادٌ صِغَارٌ،
يو سړی وو ، چې زاړه مور او پلار او واړه ماشومان يې درلودل
وَكَانَ بَرًّا بِالْوَالِدَيْنِ شَفِيْقًا عَلَى الْاَوْلَادِ.
هغه له خپلو والدينو سره ډېر نيک او مهربان او پر خپلو ماشومانو يې شفقت کاوه
وَكَانَ يَذْهَبُ كُلَّ يَوْمٍ فِي الصَّبَاحِ اِلَى الْمَرْعٰى
هغه هره ورځ سهار مهال څر ځای ته تلی
وَيَرْعَى الْمَاشِيَةَ وَيَرْجِعُ بِهَا فِي الْعِشَآءِ
او څاروي به يې څرول او ماښام به يې بيرته را وستله
فَيَحْلِبُهَا وَيَسْقِيْ وَالِدَيْهِ وَاَوْلَادَهُ الصِّغَارَ.
څاروي به يې ولوشل او په شيدو به يې مور او پلار او خپل ماشومان اوبه کول
وَكَانَ اَبَوَاهُ وَاَوْلَادُهُ الصِّغَارُ يَنْتَظِرُوْنَ قُدُوْمَهُ،
او د هغه مور او پلار او کوچنيو ماشومانو به د ده راتګ ته انتظار کاوه

(١) الله رب العزة مور او تاسي له مور او پلار سره په نېکۍ او احسان سره امر کړي يو، د مور او پاتر زهيرول كبيره ګناه ده، كه امام وو جماعت ورپسي مكروه دئ (رد المحتار). ١٢ ن

وَلَا يَنَامُوْنَ حَتّٰى يَحْضُرَ الرَّجُلُ وَيَسْقِيُهُمُ اللَّبَنَ.

او تر هغو به نه بيده كېدل، ځو چې دغه سړى به راغلى او په دوى به يې شيدې وڅيښلې

مَرَّةً ذَهَبَ الرَّجُلُ بِالْمَاشِيَةِ اِلَى الْمَرْعٰى، فَبَعُدَ

يو وار دغه سړي خپل ځاروي څرځاى ته بوتلل، نو ليرې ولاړى

فِيْ طَلَبِ الشَّجَرِ وَالْعَلَفِ فَتَاَخَّرَ ذٰلِكَ الْيَوْمَ،

د ونو او وښو په لټون پسې، نو دغه ورځ وځنډېدى

فَرَجَعَ اِلَى الْبَيْتِ وَقَدْ ذَهَبَ كَثِيْرٌ مِّنَ اللَّيْلِ.

كله چې كور ته را وګرځېدى نو د شپې زياته برخه تېره سوې وه

وَانْتَظَرَ اَبُوْهُ وَاُمُّهُ طَوِيْلًا، وَكَانَ اَبُوْهُ جَائِعًا وَكَانَتْ

مور او پلار يې اوږد انتظار كړى وو او پلار يې وږى وو او مور

اُمُّهُ جَائِعَةً، وَرَقَدَ اَبُوْهُ وَرَقَدَتْ اُمُّهُ بَعْدَ الْاِنْتِظَارِ

يې وږې وه، او تر اوږده انتظار وروسته يې مور او پلار دواړه بيده

الطَّوِيْلِ. وَرَجَعَ الرَّجُلُ وَدَخَلَ الْبَيْتَ، فَوَجَدَ اَنَّ

سوي وه، دغه سړى را وګرځېدى او كور ته داخل سو، نو ويې ليدل چې

اَبَاهُ الشَّيْخَ قَدْ رَقَدَ، وَاَنَّ اُمَّهُ الْعَجُوْزَ قَدْ رَقَدَتْ.

سپين ږيرى پلار يې بيده سوى دئ او سپين سرې مور يې هم بيده سوې ده

فَتَاَسَّفَ الرَّجُلُ وَحَزِنَ كَثِيْرًا وَنَدِمَ عَلٰى تَاْخِيْرِهٖ،

نو سړى خواشينى سو او ډېر غمجن سو او پر ځنډېدو پښېمانه سو

وَقَالَ: اَسَفًا اِنِّيْ تَاَخَّرْتُ الْيَوْمَ فِي الْمَرْعٰى وَبَعُدْتُ

او ويې ويل: افسوس چې زه نن ورځ په څرځای کې ډېر وځنډېدم او لیرې ولاړم

فِيْ طَلَبِ الشَّجَرِ وَالْعَلَفِ لِاَرْعَى الْمَاشِيَةَ حَتّٰى رَقَدَ

د ونو او وښو په لټون پسې چې څاروي پرې وڅروم تر دې چې سپين ږيری پلار

الشَّيْخُ وَرَقَدَتِ الْعَجُوْزُ. وَفَكَّرَ الرَّجُلُ هَلْ يُوْقِظُ

او سپین سرې مور مې بیده سول. نو دغه سړي فکر وکړ چې ایا را ویښ کړي

الشَّيْخَ وَالْعَجُوْزَ؟ وَكَرِهَ الرَّجُلُ اَنْ يُّوْقِظَ الشَّيْخَ

دغه بوډا او بوډۍ او که نه؟ نو بده يې وبلله چې دا سپين ږيری بوډا او سپين سرې

وَالْعَجُوْزَ. وَكَانَ اَهْلُهُ وَاَوْلَادُهُ يَنْتَظِرُوْنَهُ وَكَانُوْا

بوډۍ راويښه کړي، اولادونه يې ورته انتظار وه او هغوی

جِيَاعًا فَطَلَبُوْا مِنْهُ اللَّبَنَ. وَلٰكِنَّ الرَّجُلَ كَرِهَ

وږي وه او شيدې يې غوښتلې، ليکن سړي ښه نه ګڼله

اَنْ يَّسْقِيَ اَهْلَهُ وَاَوْلَادَهُ قَبْلَ وَالِدَيْهِ، وَخَافَ اللهَ

چې خپلې کورنۍ او اولادونو ته د مور او پلار مخکې شيدې ورکړي، له الله څخه بېرېدی

وَقَالَ: كَيْفَ اَسْقِيْكُمْ وَلَمْ اَسْقِهِمْ، اِنِّيْ اِذًا لَّمِنَ

او ويې ويل: څنګه دوی ماړه کړم، حال دا چې مور او پلار مې وږي وي، زه به په دغه وخت کې

الظّٰالِمِيْنَ. وَحَلَبَ الرَّجُلُ الْمَاشِيَةَ وَوَقَفَ يَنْتَظِرُ

خامخا له ظالمانو څخه یم، سړي څاروي ولوشل او ودرېدی انتظار يې کاوه

اَنْ يَّسْتَيْقِظَ اَبَوَاهُ، وَبَقِيَ وَاقِفًا وَالْقَدَحُ عَلٰى يَدِهِ

چي مور او پلار یې خپله ویښ سي، او همداسي کاسه په لاس ولاړ پاته سو

وَالْاَطْفَالُ يَبْكُوْنَ وَيَصِيْحُوْنَ عِنْدَ قَدَمِهِ، وَلٰكِنَّهُ

ماشومانو یې ژړله او په پښو کي یې چیغي ورته وهلې، مګر

لَمْ يَسْقِهِمْ شَيْئًا مِنَ الْقَدَحِ وَلَمْ يَشْرَبْ، وَبَاتَ

ده له کاسې څخه شیدې نه ورکولې او نه یې په څیښلې، او شپه تېره سوه

قَائِمًا وَالْقَدَحُ عَلٰى يَدِهِ. وَطَلَعَ الْفَجْرُ وَاسْتَيْقَظَ

دی ولاړ وو او کاسه یې په لاس کي وه، سهار سو او مور او پلار یې

وَالِدَاهُ، فَقَدَّمَ الرَّجُلُ لَهُمَا قَدَحَ اللَّبَنِ فَشَرِبَا

را ویښ سول، نو سړي هغوی ته د شیدو کاسه وړاندي کړه او هغوی وڅیښلې

ثُمَّ سَقٰى اَوْلَادَهُ، وَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْ هٰذَا الرَّجُلِ

وروسته خپل ماشومان پرې اوبه کړل، هغه وو چي الله تعالی له دغه سړي څخه راضي سو

الَّذِیْ كَانَ بَرًّا بِالْوَالِدَيْنِ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْ هٰذَا

چي ده له خپل مور او پلار سره نېکي کوله، الله تعالی ځني راضي سو د ده د دغه

الْعَمَلِ الصَّالِحِ وَقَبِلَهُ. وَمَرَّةً كَانَ هٰذَا الرَّجُلُ الْبَرُّ

نېک کار له وجي او ځني قبول یې کړ ، او یوه وخت دغه نېک سړي

مَاشِيًا فِي اللَّيْلِ، فَرَاٰى غَارًا، فَقَالَ: اَبِيْتُ اللَّيْلَ

په شپه کي تګ کاوه چي یو غار یې ولیدی، ویې ویل: شپه به تېره کړم

فِيْ هٰذَا الْغَارِ وَاَخْرُجُ فِي الصَّبَاحِ. وَدَخَلَ الْغَارَ
په دغه غار کي او سهار به ولاړ سم . او غار ته ننوتی
لِيَبِيْتَ، فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَسَدَّتْ
چي شپه تېره کړي، خو له غره څخه يوه لويه ډبره وغړېده او په ده پسي
عَلَيْهِ الْغَارَ[۱]. فَدَعَا اللهَ بِهٰذَا الْعَمَلِ الصَّالِحِ
يې غار بند کړ. نو ده په خپل دغه نېک عمل سره الله تعالی ته دعاء وکړه
وَقَالَ: اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ
او ويې ويل: اې مهربانه خدايه! که چيري ته پوهېږې چي ما دغه کار ستا
ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَاكْشِفْ هٰذِهِ الصَّخْرَةَ،
د رضاء لپاره کړی وي، نو دغه ډبري ليري کړې.
فَاَجَابَ اللهُ دَعْوَةَ هٰذَا الرَّجُلِ الصَّالِحِ وَاَعَانَهُ[۲].
نو الله تعالی د دغه سړي دعاء قبوله کړه او مرسته يې وکړه.

(۱) دا واقعه د هغه درو کسانو ده، چي د يوه واقعه يې مخکي په ديارلسم (۱۳) درس کي تېره سوه، والتفصيل في (مشكوة المصابيح: ج ۲ / ص ۴۲۰). ۱۲ ابو الاخلاص

(۲) په دې درس کي شاګردانو ته دا هم وربښيي چي کله يو مشکل درباندي راسي، نو الله رب العزة ته خپل اعمال صالحه توسل کوه، توسل په اعمال صالحه جائز دئ بالاتفاق او توسل په اشخاص فاضله ؤ سره هم جائز دئ عند أهل السنة والجماعة، واوضحت هذه المسئلة في دلائل الخيرات وهو كتابي آخر وأيضًا في تعليقي على المهند والمفند، المطبوع من المكتبة الاسلامية. ۱۲ أبو الإخلاص

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) ما العمل الذى كان يمارسه الرجل البار بوالديه؟

(٢) عاد الرجل مساءً ا ووجد والديه نائمين، ماذا قال فى نفسه؟

(٣) لِمَ لم يسق الرجل اطفاله الجياع من اللبن؟

(٤) ماذا حدث مع الرجل فى الغار؟

(٥) كيف اعان الله تعالى الرجل البار وقد سد عليه الغار؟

فى المقطع الثانى مثنى، استخرجه، واذكر مفرده،

ثم ضعه فى جملة مفيدة.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۱۷)

فَضِيْلَةُ الشُّغْلِ (۱)

د كار كولو فضيلت

اِنَّ رَجُلًا مِنَ الْاَنْصَارِ اَتَى النَّبِيَّ ﷺ يَسْئَلُهُ،
يو انصاري سړی رسول الله ﷺ ته راغی او له هغه څخه يې د مرستې غوښتنه وكړه
فَقَالَ: اَمَا فِيْ بَيْتِكَ شَيْءٍ؟ قَالَ: بَلٰى حِلْسٌ نَلْبَسُ
هغه ورته وويل: ايا ستا په كور كې كوم څه شته؟ سړي وويل: هو، يوه بستره لرم چې يوه
بَعْضَهُ، وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيْهِ
برخه يې اغوندو او يوه برخه يې هواروو، او يو لوښی دئ چې په هغه كې موږ
مِنَ الْمَآءِ. قَالَ: اِئْتِنِيْ بِهِمَا. فَاَخَذَهُمَا رَسُوْلُ
رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: "هغه دواړه ما ته راوړه". نو رسول الله ﷺ هغه واخيستل
اللهِ ﷺ بِيَدِهِ وَقَالَ: مَنْ يَّشْتَرِيْ هٰذَيْنِ؟
په لاس كې يې ونيول او ويې ويل: دا دوه شيان څوک رانيسي؟
قَالَ رَجُلٌ: اَنَا اٰخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ. قَالَ: مَنْ يَّزِيْدُ
يو سړي وويل: زه يې په يوه درهم رانيسم. رسول الله ﷺ وويل: څوک يې تر يوه

(۱) د خير په كارونو مشغوليت او مصروفيت يو نعمت دئ، بې كارې او بې روزګارې يو مصيبت دئ، دا د الله تعالى يو عذاب دئ، انسان په خوارئ او روزګار باندې نه ايسي او ګټمن هم وي. ۱۲ ن

عَلٰى دِرْهَمٍ؟ مَنْ يَّزِيْدُ عَلٰى دِرْهَمٍ؟ قَالَ رَجُلٌ:

درهم زيات رانيسي. څوک يې تر يوه درهم زيات رانيسي. يوه بل سړي وويل:

اَنَا اٰخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ. فَاَعْطَاهُمَا اِيَّاهُ وَاَخَذَ

زه يې په دوه درهمه رانيسم، نو دواړه شيان يې هغه ته ورکړه او له هغه څخه يې

الدِّرْهَمَيْنِ فَاَعْطَاهُمَا الْاَنْصَارِيَّ وَقَالَ: اِشْتَرِ

دوه درهمه واخيستل او دغه انصاري ته يې ورکړل او ورته ويې ويل: په يوه يې

بِاَحَدِهِمَا طَعَامًا فَانْبِذْهُ اِلٰى اَهْلِكَ، وَاشْتَرِ بِالْاٰخَرِ

خواړه رانيسه په خپلې کورنۍ يې وخوره او په بل يې يو

قَدُوْمًا فَأْتِنِيْ بِهٖ. فَاَتَاهُ بِهٖ فَشَدَّ فِيْهِ رَسُوْلُ

تبر رانيسه. او ما ته يې راوړه. سړي تبر راوړی نو رسول الله ﷺ په هغه کې

اللّٰهِ ﷺ عُوْدًا بِيَدِهٖ. ثُمَّ قَالَ لَهٗ: اذْهَبْ فَاحْتَطِبْ

د لرګي يو لاستی واچوی، وروسته يې انصاري ته وويل: ولاړ سه لرګي وکړه

وَبِعْ وَلَا اَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا. فَذَهَبَ الرَّجُلُ

او خرڅوه يې او چې تر پنځلو ورځو دي ونه وينم. سړی ولاړی

يَحْتَطِبُ وَيَبِيْعُ، فَجَآءَ وَقَدْ اَصَابَ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ،

لرګي يې وکړه او خرڅ يې کړه، او په داسي حال کي راغلی چي لس درهمه ورسره وه

فَاشْتَرٰى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا. فَقَالَ

نو په ځينو درهمونو يې جامې واخيستې او په ځينو يې خواړه. نو رسول الله ﷺ

رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: هٰذَا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ اَنْ تَجِيْءَ
ورته وفرمايل: دا ستا لپاره خير دئ تر دې چې په دغه سوال كولو سره
الْمَسْئَلَةُ نُكْتَةً فِيْ وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.
د قيامت په ورځ ستا پر مخ باندې تور ټكى پيدا سي.

اَلْاَسِئْلَةُ[1]

(۱) لماذا جآء الرجل الى النبى ﷺ؟

(۲) كيف ساعد النبى ﷺ الرجل؟

(۳) الى اى شيء دعا النبى ﷺ الرجل؟

(۴) ما رايك: العمل افضل ام سؤال الناس؟ و لماذا؟

(۵) كيف نقضى على ظاهرة التسول؟

املا الفراغات التالية بالكلمة المناسبة مستعينًا بالنص:

قال رسول .... هذا .... لك من ان تجىء

نكتة فى .... يوم ....

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو كې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۱۸)

تَرْنِيْمَةُ الْوَلَدِ فِي الصَّبَاحِ (۱)

د ماشوم د سهار زمزمه (ترنم)

اَشْرَقَتِ الشَّمْسُ وَقَدْ	وَلَّى الظَّلَامُ هَارِبًا
لمر را وختی او په ربښتيا	تياره په تښتيدو سوه
فَالشُّكْرُ لِلّٰهِ الْاَحَدْ	شُكْرًا عَظِيْمًا وَاجِبًا
نو يوه الله تعالى لره شكر دئ	عظيم شکر واجب دئ
مَا اَحْسَنَ النُّوْرَ اَرٰى	فِيْهِ الْاُمُوْرَ بَاسِمَهْ
څومره ښكلي رڼا ده ، وينم	پکښې چاري ښكلي
وَالطَّيْرُ تَشْدُوْا سَحَرًا	عَلَى الْغُصُوْنِ قَائِمَهْ
مرغان سهار ناست وي	پر څانګو (ښاخونو) د ونو
مَا اَحْسَنَ النُّوْرَ الْبَهِيَّ	فِيْهِ اَجِدُّ عَامِلًا
څومره ښكلي رڼا ده	زه پکښې کار او کوښښ کوم
اِنِّيْ اَوَدُّ دَائِمًا	اَلَا اَكُوْنَ خَامِلًا
زه خوښوم همېشه	دا چي هڅاند واوسم
اَللّٰهُ قَدْ اَجَارَنِيْ	مِنْ كُلِّ شَرٍّ فِي الظَّلَامِ
الله تعالى زما ملګرى (ساتونكى) دئ	په تاريكيو كي له هري بدى څخه

(۱) په دې كې ښه تربيه او ښه روزنه ده، هر بيت يې له حكمته ډک دئ. ۱۲ ن

شُكْرًا لَّهُ قَدْ صَانَنِيْ	شُكْرًا لَهُ عَلَى الدَّوَامِ
شكر دئ الله لره چې زما ساتنه كوي	شكر دئ الله تعالى لره همېشه

(مَدَارِجُ الْقِرَاءَةِ)

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) من خلق الشمس والليل والنهار؟

(٢) ما واجبنا تجاه نعم الله الكثيرة؟

(٣) ما السبيل الاقوم لشكر الله تعالى وحمده؟

(٤) ما الغاية الحقيقية من وجود الانسان فى هذه الارض؟

(٥) الله يحمى الانسان ويصونه.

اين تجد هذا المعنى فى الابيات؟

اكمل البيتين التاليين:

.... قد اجارني من كل .... فى الظلام

.... له قد صانني .... له على الدوام

---

(١) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو كې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(١٩)

أَصْدِقَائِيْ (١)

زما ملګري

لِيْ اَرْبَعَةُ اَصْدِقَاءَ: حَسَنٌ، وَقَاسِمٌ، وَعُمَرُ، وَمُحَمَّدٌ

زه څلور ملګري لرم : حسن ، قاسم ، عمر ، او محمد

اَمَّا حَسَنٌ فَوَلَدٌ مُهَذَّبٌ حَلِيْمٌ، لَا يَكْذِبُ وَلَا

حسن چې دئ يو مؤدب ، زغم لرونکی هلک دئ ، دروغ نه وايي او نه

يَغْضَبُ، اُحِبُّهُ لِاَدَبِهِ وَحِلْمِهِ، وَهُوَ رَفِيْقِيْ فِي الْمَدْرَسَةِ

په قهر کيږي ، زه يې د ادب او زغم له امله خوښوم ، او هغه په مدرسه کې زما ملګری دئ

وَجَارِيْ فِي الْحَيِّ، وَصَدِيْقِيْ مُنْذُ اَرْبَعِ سِنِيْنَ. وَهُوَ

او په کلي کې زما ګاونډی دئ، او له څلورو کالو څخه زما ملګری دئ او هغه

يَسْكُنُ فِيْ حَيِّنَا مِنْ سِنِيْنَ، وَبَيْتُهُ قَرِيْبٌ مِنْ بَيْتِيْ،

هغه له څو کلونو څخه زموږ په کلي کې اوسيږي، او د هغه کور زما کورته نږدې دئ

وَلَيْسَ بَيْنَ بُيُوْتِنَا اِلَّا بَيْتٌ وَّاحِدٌ. وَلَمْ نَتَخَاصَمْ

زموږ د کورونو تر منځ يوازې يو بل کور دئ، او موږ شخړه نه ده کړې

---

(١) هر څوک چې کاميابي غواړي، نو همدغه ډول ملګري دې پيدا کړي، نو به هوسا وي، بې غمه به وي، له دروغو او فريبو څخه به خلاص وي. په دې درس کې خاص الخاص شاګردانو ته د ښو ملګرو اوصاف بيانوي او ورښيي چې بايد څه ډول ملګري غوره کړي. ١٢ ن

فِيْ هٰذِهِ الْمُدَّةِ مَعَ اَنَّا نَسْكُنُ فِيْ حَيٍّ وَّاحِدٍ، وَنَقْرَأُ

په دې موده کې سره له دې چې موږ په يوه کلي کې اوسيږو ، او موږ درس لولو

فِيْ صَفٍّ وَّاحِدٍ، وَنَذْهَبُ جَمِيْعًا اِلَى الْمَدْرَسَةِ وَتَرْجِعُ

په يوه صنف کې او يو ځای مدرسې ته ځو او يو ځای بيرته

جَمِيْعًا، وَقَدْ تَخَاصَمَ كَثِيْرٌ مِّنَ الْاَصْدِقَاءِ، وَاَرٰى

راځو ، او ډېر ملګري سره جنګيږي ، زه يې وينم

كُلَّ يَوْمٍ بَعْضَ الْاَوْلَادِ يَتَخَاصَمُوْنَ. وَيُحِبُّ اَبِيْ

هره ورځ ځيني هلكان چې جنګونه سره کوي. او زما پلار او زما مور

وَاُمِّيْ حَسَنًا وَيَفْرَحَانِ بِرِفَاقَتِهِ، لِاَنَّهُ وَلَدٌ لَيْسَ

حسن خوښوي او د هغه په ملګرتيا خوشحاله دي ځکه چې هغه يو داسې هلک دی

فِيْهِ شَرٌّ ، وَيُحِبُّنِيْ اَبُوْ حَسَنٍ وَيَرَانِيْ كَوَلَدِهِ. اَمَّا

چې هيڅ بد پکښې نشته ، او د حسن د پلار زه خوښ يم او ما د خپل زوی په شان ګڼي. او

قَاسِمٌ فَوَلَدٌ ذَكِيٌّ نَشِيْطٌ تَرَاهُ دَائِمًا مَسْرُوْرًا، لَا اَذْكُرُ

قاسم چې دئ، يو هوښيار او فعال هلک دئ، ته به تل هغه خوشحاله وينې، زما نه ياديږي

اَنِّيْ رَاَيْتُهُ قَطُّ مَحْزُوْنًا، وَهُوَ ذُوْ اَخْبَارٍ وَحِكَايَاتٍ

چې ما دې هغه کله هم غمجن ليدلی وي. او هغه د کيسو او خبرو خاوند دئ،

يَسُرُّ اَصْدِقَاءَهُ بِاَحَادِيْثِهِ ، وَحِكَايَاتِهِ ، وَيُحِبُّهُ

خپل ملګري په خپلو خبرو او کيسو سره خوشحاله کوي او ملګري يې

اَصْدِقَاؤُهُ، وَهُوَ مُجْتَهِدٌ فِي الدُّرُوْسِ لَمْ يَرْسُبْ

هغه خوښوي، او هغه په درسونو کي کوښښ کوونکی دی، ناکامه کیږي نه

فِيْ اِمْتِحَانٍ. اَمَّا عُمَرُ فَوَلَدٌ يَتِيْمٌ يَسْكُنُ فِيْ حَيِّنَا

په‌ازموينه‌کي. او عمر چي دئ، یو یتیم هلک دئ، دی هم زموږ په کلي کي اوسيږي.

اَيْضًا، اُمُّهُ عَجُوْزٌ تَكْتَسِبُ بِالْخِيَاطَةِ وَتُنْفِقُ

د هغه مور زړه او بوډۍ ښځه ده، د خیاطۍ کسب کوي او پالنه کوي

عَلٰى وَلَدِهَا، لٰكِنَّ عُمَرَ وَلَدٌ كَبِيْرُ النَّفْسِ لَا يَقْبَلُ

د خپل زوی ، مگر عمر یو عزتمن هلک دی ، له خپلي مور شخه

مِنْهَا شَيْئًا، ثِيَابُهُ رَخِيْصَةٌ وَلٰكِنَّهَا دَائِمًا نَظِيْفَةٌ

هيڅ شی نه غواړي . د هغه جامې ارزانه دي ، خو همېشه پاکي وي.

يُحِبُّهُ جَمِيْعُ الْمُعَلِّمِيْنَ لِصَلَاحِهِ وَاَدَبِهِ وَاجْتِهَادِهِ

ټول ښوونکي هغه خوښوي د خپل استعداد ، ادب ، کوښښ

وَمُوَاظَبَتِهِ. وَلَمْ يَرْسُبْ عُمَرُ فِي الْاِمْتِحَانِ اِلَّا مَرَّةً

او پابندۍ په سبب ، عمر يوازي يو ځل په ازموينه کي ناکامه سو

وَحَزِنَ كَثِيْرًا، وَحَزِنَتْ اُمُّهُ لَمَّا رَسَبَ عُمَرُ

او ډېر خواشيني سو. مور يې هم غمجنه سوه چي کله عمر په ازموينه کي

فِي الْاِمْتِحَانِ، وَاَرَادَ عُمَرُ اَنْ يَّتْرُكَ الْمَدْرَسَةَ.

ناکامه سو . او عمر اراده وکړه چي مدرسه پرېږدي

وَلٰكِنْ شَجَّعَتْهُ اُمُّهُ وَقَالَتْ: اَنَا اَكْتَسِبُ بِالْخِيَاطَةِ

خو مور يې هغه وهڅاوه او ورته ويې ويل: زه د خياطۍ کسب کوم

وَاُنْفِقُ عَلَيْكَ، وَرَجَعَ عُمَرُ اِلَى الْمَدْرَسَةِ وَاجْتَهَدَ

او په تا مصرف کوم. عمر بيرته مدرسې ته راوګرځېدی او ډېر کوښښ يې

كَثِيْرًا، وَنَجَحَ فِي الْاِمْتِحَانِ فِي السَّنَةِ الثَّانِيَةِ وَبَرَّزَ

وکړ، او په دوهم کال په ازموينه کې بريالی سو. او په ازموينه کې

فِي الْاِمْتِحَانِ. اَمَّا مُحَمَّدٌ فَتِلْمِيْذٌ نَجِيْبٌ مُجْتَهِدٌ

ممتاز سو. او محمد چې دئ، يو تکړه او ډېر کوښښ کوونکی

جِدًّا يُبَرِّزُ فِي الْاِمْتِحَانِ كُلَّ سَنَةٍ، وَوَلَدٌ كَاتِبٌ جَيِّدُ

شاګرد دئ. هر کال په ازموينه کې ممتاز کيږي، او يو ښه ليکونکی هلک دی.

الْخَطِّ يَعْرِفُ كِتَابَةَ الرَّسَائِلِ، وَهُوَ مُتَقَدِّمٌ فِي الصَّفِّ

ښه خط لري، د ليکونو ليکل يې ښه زده دي. او هغه په صنف کې مخکښ دئ

وَمُوَاظِبٌ عَلَى الدَّرْسِ، وَجَمِيْعُ اَصْدِقَائِيْ مُحَافِظُوْنَ

او هميشه درسونو ته پاملرنه کوي، او زما ټول ملګري د لمونځونو

عَلَى الصَّلَوَاتِ، مُوَاظِبُوْنَ عَلَى الدُّرُوسِ وَلَمْ نَتَخَاصَمْ

پابند دي، او په درسونو کې کوښښ کوونکي دي، او موږ هيڅکله شخړه

قَطُّ وَلَمْ نَغْضَبْ، وَاَرْجُوْ اَلَّا اَكُوْنَ شَرَّ الْاَصْدِقَاءِ.

نه ده کړې او نه مو غوسه کړې ده. او هيله لرم چې زه به له بدو ملګرو څخه نه يم.

اَلْاَسْئِلَةُ (۱)

(۱) اذكر اسماء اربعة اصدقاء لك.

(۲) اذا رايت صديقين متخاصمين فماذا تفعل؟

(۳) ما الصفات التى تحبها فى صديقك؟

(۴) متى تزور اصدقاءك؟

(۵) ما المقياس الاساس الذى تتعامل وفقه مع اصدقائك؟

اجمع الكلمات التالية ثم ضع كل كلمة فى جملة مفيدة:

الصديق، الامتحان، الحكاية، الناحية، الصلوة.

(۱) محترم استاذ دې له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کې ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ۱۲ ن

(۲۰)

قَرْيَتِیْ (۱)

زما کلی

قَرْيَتِیْ جَمِيْلَةٌ فِیْ وَسَطِ حُقُوْلٍ وَبَسَاتِيْنَ كَاَنَّهَا
زما کلی ښکلی دی ، د بڼونو او کروندو په منځ کي ، داسي دئ لکه
جَزِيْرَةٌ فِیْ بَحْرٍ اَخْضَرَ، لَا تَرٰى فِيْهَا اِلَّا خُضْرَةً
چي يوه جزيره (ټاپو) د شنه سمندر په منځ کي وي. ته به پکښي ونه وينې، مګر شينوالی
وَمَآءًا، فَالْاَرْضُ خَضْرَاءُ وَالْحُقُوْلُ خَضْرَاءُ
او اوبه. نو مځکه شنه ده ، کروندې شني دي،
وَالدُّنْيَا كُلُّهَا خَضْرَاءُ فِیْ قَرْيَتِیْ، وَيَجْرِیْ مِنْ تَحْتِ
او ټوله دنيا شنه ښکاري زما په کلي کي. او تر کلي لاندي يوه
الْقَرْيَةِ نَهْرٌ مَاؤُهٗ نَقِیٌّ شَفَّافٌ لِاَنَّهٗ يَجْرِیْ عَلَى الرَّمْلِ
وياله بهېږي، چي اوبه يې پاکي او رڼي دي، ځکه چي دا د شګو پر سر بهيږي.
نَغْتَسِلُ فِیْ هٰذَا النَّهْرِ وَنَسْبَحُ وَنَلْعَبُ وَنَشْرَبُ
موږ په دي وياله کي لمبېږو ، لامبو وهو ، لوبي کوو ، او د دي پاکو اوبو

(۱) په دي درس کي شاګردانو د خپل کلي او قريې اړوند معلومات ورکوي. ۱۲ ن

مِنْ مَّآئِهِ النَّقِيِّ، وَنَرَى السَّمَكَ يَجْرِيْ مِنْ هُنَا وَهُنَا
شخه ښیښاک کوو. موږ ماهیان پکښې وینو، چې دلته هلته پکښې ګرځي،
وَنَرَى الصَّدَفَ فِيْ قَعْرِ النَّهْرِ لِاَنَّ الْمَآءَ نَقِيٌّ
او د ویالې په تل کې صدفونه وینو ، ځکه چې اوبه پاکې
شَفَّافٌ، وَقَدْ تَعَلَّمْنَا السَّبَاحَةَ وَنَحْنُ صِغَارٌ
او رڼې دي. موږ د کوچنیوالي راهیسې لامبو زده کړې ده.
فَاِذَا كَانَتْ اَيَّامُ الْمَطَرِ فَاضَ النَّهْرُ، وَكَانَ عَرْضٌ
کله چې د باران ورځې راسي ، ویاله کېږې او عرض یې
كَبِيْرٌ عَبَرْنَا هٰذَا النَّهْرَ وَتَسَابَقْنَا فِي السَّبَاحَةِ.
پراخيږي نو موږ په دې ویاله کې غوټې وهو او د لامبو مسابقې کوو
وَاَرٰى كَثِيْرًا مِنْ اَهْلِ الْبَلَدِ لَا يَعْرِفُوْنَ السَّبَاحَةَ
او زه ډېر د ښار خلګ وینم، چې لامبو نه سي کولی،
وَهُمْ كِبَارٌ وَيَخَافُوْنَ الْمَآءَ جِدًّا، وَلَا يَدْخُلُوْنَ
حال دا چې دوی لوی لوی خلګ دي، دوی له اوبو څخه ډېر بيريږي، او هيڅکله
النَّهْرَ. جَآءَ مَرَّةً صَدِيْقٌ لِيْ مِنَ الْبَلَدِ وَدَخَلْنَا
ویالې ته نه داخليږي. يو وار زما يو ملګرى له ښاره راغلى وو، او موږ
النَّهْرَ وَقُلْنَا لَهُ: تَعَالَ يَا اَخِيْ وَاغْتَسِلْ وَاسْبَحْ،
ویالې ته ور ګښته سوو او موږ هغه ته وویل: راسه‌اې وروره، ولمبيږه او لامبو وکړه.

فَقَالَ: اِنِّيْ اَخَافُ الْمَآءَ وَلَا اَعْرِفُ السَّبَاحَةَ،

هغه ووېل: زه له اوبو څخه بېرېږم، او لامبو مې نه ده زده

فَشَجَّعْنَاهُ وَقُلْنَا: لَا تَخَفْ وَنَحْنُ مَعَكَ، فَتَشَجَّعَ

موږ وهڅاوه او ورته ومو ويل: مه بېرېږه، موږ درسره يو، نو دی زړور سو،

وَدَخَلَ الْمَآءَ وَاَرَادَ اَنْ يَّسْبَحَ، وَلٰكِنْ ذَهَبَ

اوبو ته داخل سو، او غوښتل يې لامبو وکړي خو د ويالې تل

اِلَى الْقَعْرِ، فَاَخَذْنَا بِيَدِهٖ وَرَفَعْنَاهُ فَخَرَجَ وَقَدْ

ته ولاړی. موږ يې لاس ونيوی، او را پورته مو کړ، دی له اوبو راووت،

شَرِبَ الْمَآءَ وَكَانَ يَغْتَسِلُ مَعَنَا كُلَّ يَوْمٍ، وَيَتَعَلَّمُ

خو اوبه يې تېرې کړې وې. له هماغې ورځې، هره ورځ زموږ سره لمبېده، او لامبو يې

السَّبَاحَةَ حَتّٰى تَعَلَّمَهَا وَعَبَرَ النَّهْرَ فَتَشَجَّعَ وَعَبَرَ

زده کوله، تر دې چې لامبو يې زده کړه د وياله تل ولاړی، نو زړور سو بيا يې تل ته ولاړی

مَرَّتَيْنِ. وَاِذَا نَزَلَتْ اَمْطَارٌ كَثِيْرَةٌ وَفَاضَ النَّهْرُ

دوه واره. او کله چې ډېر باران وسي، او وياله ډېرې اوبه پيدا کړي،

اَصْبَحَتْ قَرْيَتِيْ شِبْهَ جَزِيْرَةٍ يُحِيْطُ بِهَا الْمَآءُ

زما کلی د يوې جزيرې (ټاپو) په شان سي، چې له دريو خواؤ څخه يې

مِنْ ثَلَاثِ جِهَاتٍ، وَتَبْقٰى جِهَةٌ وَاحِدَةٌ نَذْهَبُ

اوبه چاپېره کړي، او يوازې يې يوه خوا پاته وي، چې له هغې لاري

مِنْهَا اِلَى الْبَلَدِ وَنَشْتَرِى الْحَوَائِجَ مِنَ السُّوْقِ.

موږ ښار ته ځو ، او د اړتيا وړ سامانونه له بازاره رانيسو

وَفِىْ سَنَةٍ كَانَ فَيْضَانٌ عَظِيْمٌ، فَاضَ الْمَآءُ وَدَخَلَ

يو كال يو لوى سيلاب راغلى، اوبه ډېرې سوې ، تر دې چې كورونو

الْبُيُوْتَ وَخَافَ النَّاسُ الْغَرَقَ وَتَرَكْنَا قَرْيَتَنَا

ته ننوتلې ، خلک پر غرقېدو وېرېدل او موږ خپل كلى پرېښود،

وَذَهَبْنَا اِلَى الْبَلَدِ وَلَمْ نَرْجِعْ اِلَّا بَعْدَ شَهْرٍ.

او ښار ته لاړو، او تر يوې مياشتې وروسته بيرته راستانه سو.

وَيَزُوْرُ قَرْيَتِىْ كَثِيْرٌ مِنَ النَّاسِ وَالْعُلَمَآءِ لِاَنَّهَا

زما د كلي ليدو ته ډېر خلک او عالمان راځي، ځكه چې دا

قَرْيَةٌ مَّشْهُوْرَةٌ وُلِدَ فِيْهَا كَثِيْرٌ مِنَ الْعُلَمَآءِ

يو مشهور كلى دى، دلته ډېر عالمان او صالحين

وَالصَّالِحِيْنَ. وَعَلٰى شَاطِئِ النَّهْرِ مَسْجِدٌ قَدِيْمٌ

زېږېدلي دي. او د رود پر غاړه يو پخوانى مسجد دئ،

بَنَاهُ جَدُّنَا الْكَبِيْرُ مَضٰى عَلَيْهِ ثَلَاثُ مِائَةِ سَنَةٍ،

چې زموږ لوى نيكه جوړ كړى، چې درې سوه كاله پرې تېر سوي دي.

وَيَدْخُلُ فِيْهِ الْمَآءُ فِىْ كُلِّ فَيْضَانٍ وَيَمْكُثُ فِيْهِ

په هر سيلاب كي اوبه دې مسجد ته ننوزي، او ډېري ورځي

الْمَآءُ	اَيَّامًا	طَوِيْلَةً ،	وَلٰكِنَّهُ	لَمْ يَضْعُفْ.
پکښې	پاته کيږي،	خو بيا هم دا مسجد	کمزورى سوى نه دئ.	

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) بم شبه الكاتب القرية الجميلة؟

(٢) ماذا يوجد فى قعر النهر؟

(٣) السباحة ضرورية اين تجد هذا المعنى فى النص؟

(٤) ماذا حدث عندما تعرضت القرية للفيضان؟

(٥) اين يقع المسجد القديم؟

هات مفردات الكلمات التالية ثم ضعها فى جمل مفيدة:

بساتين، السمك، صغار، امطار، البيوت.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۲۱)

تَرْنِيمَةُ اللَّيْلِ (۱)

د شپې زمزمه

اِنَّ الْفِرَاشَ النَّاعِمَا	فِيهِ تَنَامُ دَائِمَا
نرۍ، نرم بستر دی،	ته پکښې تل بیده کېږې.
نَمْ يَا حَبِيبِیْ اٰمِنَا	نَمْ اٰمِنَا نَمْ اٰمِنَا
بیده سه، زما ګرانه، په امن،	بیده سه په امن، بیده سه په امن
رَاحَ النَّهَارُ وَاحْتَجَبْ	مَعَهُ الْعَنَاءُ وَالتَّعَبْ
ورځ لاړه او پټه سوه،	له هغې سره سختي او ستړيا هم ولاړه
وَاللَّيْلُ بِالْاَمْنِ اقْتَرَبْ	نَمْ اٰمِنَا نَمْ اٰمِنَا
شپه په امن سره رانږدې سوه،	بیده سه په امن، بیده سه په امن
بَاتَتْ عَصَافِيْرُ الْغَرَدْ	فِيْ حِفْظِ مَوْلَانَا الصَّمَدْ
چوغکې (مرغۍ) هم بیدې سوې،	زموږ د بې نیازه رب په ساتنه کې
مَنْ لَيْسَ يَغْفُلُ عَنْ اَحَدْ	نَمْ فِيْ حِمَاهُ اٰمِنَا
هغه ذات، چې له هيچا غافل نه دئ،	بیده سه، د هغه په پناه کې، په امن

(۱) عجيبه ښه او ښکلي بيتونه دي، د شپې حقيقت يې پکښې څرګند کړی دئ، او شاګردانو ته د شپې مهم شيان ورښيي. ۱۲ ن

نَمْ اٰمِنًا حَتَّى السَّحَرْ	مِنْ كُلِّ ضَيْمٍ اَوْ كَدَرْ
بيده سه په امن، تر سهاره پوري،	له هر درد او تكليف څخه بې غمه
نَمْ فِيْ حِمٰى بَارِى الْبَشَرْ	نَمْ فِيْ حِمَاهُ اٰمِنَا
بيده سه، د انسانانو د خالق په پناه كي،	بيده سه، د هغه په پناه كي، په امن

(مَدَارِجُ الْقِرَاءَةِ)

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) ما صفة الفراش الذى تنام فيه؟

(٢) ماذا تقول لوالديك عندما يحين وقت النوم؟

(٣) من يحمى الناس فى النوم واليقظة؟

(٤) ما الفرق بين الليل والنهار؟

(٥) متى يستيقظ الانسان ليؤدى صلوة الفجر؟

اكمل البيتين التاليتين:

نم آمنا حتى .... من كل .... او كدر

نم فى حمى بارى .... نم فى حماه ....

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو كي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٢٢)

مُسَابَقَةٌ بَيْنَ شَقِيْقَيْنِ (١)

د دوو ورونو تر منځ سيالي

قَالَ سَيِّدُنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ:
سيدنا عبد الرحمن بن عوف رضي الله تعالى عنه وفرمايل:
كُنْتُ وَاقِفًا يَوْمَ بَدْرٍ وَغُلَامَانِ مِنَ الْاَنْصَارِ
زه د بدر په ورځ ولاړ وم، او دوه زلمي انصاري هلكان،
مُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ وَمُعَوِّذُ بْنُ عَفْرَاءَ عَنْ يَمِيْنِىْ
معاذ بن عفراء او معوذ بن عفراء، زما راسته
وَشِمَالِىْ. وَالْتَفَتَ اِلَىَّ اَحَدُهُمَا، وَقَالَ لِىْ سِرًّا مِنْ
او چپه اړخ ته ولاړ وو. يوه يې زما خوا ته وكتل او له خپل ملګري څخه پټ يې
صَاحِبِهٖ: اَىْ عَمِّ! هَلْ تَعْرِفُ اَبَا جَهْلٍ؟ فَقُلْتُ:
راته وويل: اكا جانه! ايا ته ابو جهل پيژني؟ ما ورته وويل:
نَعَمْ وَمَاذَا تُرِيْدُ مِنْهُ يَا بْنَ اَخِىْ؟ قَالَ: اُخْبِرْتُ
هو، پيژنم يې خو ته له هغه څخه غواړې، اي وراره! هغه وويل: زه خبر سوى يم

---

(١) دا يوه ډيره ښه او غوره مسابقه وه، هم په ښه وخت او زمان كي وه، هم په ښه طريقه سره وه او هم د ښو او پاكانو خلكو سره په حضور كي وه او په دې درس كي شاګردانو ته يو پند نغښتى دئ چي بايد په دا ډول د خير كارونو كي مسابقه او وړاندي والى سره وكړي. ١٢ ن

اَنَّهُ يَسُبُّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ، اَرِنِيْهِ يَا عَمِّ! فَاِنِّيْ

چي هغه رسول الله ﷺ ته ښکنځل کوي، ته يې ما ته را وښيه، اې اکا جانه! بېشکه ما

اَعْطَيْتُ اللهَ عَهْدًا اِنْ رَاَيْتُهُ اَنْ اَقْتُلَهُ اَوْ اَمُوْتَ

له الله تعالى سره وعده کړې ده چي که مي هغه وليدی، يا به هغه ووژنم او يا به خپله

دُوْنَهُ. وَقَالَ لِيَ الْاٰخَرُ سِرًّا مِنْ صَاحِبِهِ: اَرِنِيْهِ

ووژل سم. او هغه بل هلک هم له خپل ملګري څخه پټ راته وويل: ما ته يې وښيه

يَا عَمَّ فَاِنِّيْ عَاهَدْتُ اللهَ اِنْ عَايَنْتُهُ اَنْ اَضْرِبَهُ

اې اکا جانه! ما له الله تعالى سره ژمنه کړې ده چي که مي هغه وليدی تر هغو به يې

بِسَيْفِيْ حَتّٰى اَقْتُلَهُ. فَبَيْنَا اَنَا كَذٰلِكَ اِذْ بَرَزَ

په توره ووهم تر څو چي يې ووژنم. زه لا همداسي ولاړ وم چي ناڅاپه ابو جهل

اَبُوْ جَهْلٍ، فَقُلْتُ: اَلَا تَرَيَانِ؟ هٰذَا اَبُوْ جَهْلٍ

راښکاره سو، نو ما ورته وويل: ايا تاسو هغه وينئ؟ دا ابو جهل دئ

هٰذَا صَاحِبُكُمْ، فَشَدَّا عَلَيْهِ مِثْلَ الصَّقْرَيْنِ

دا ستاسو هدف دئ، نو دواړه پرې د بازانو په شان را ښکته سول،

حَتّٰى ضَرَبَاهُ. ثُمَّ انْصَرَفَا اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَاَخْبَرَاهُ.

تر دې چي و يې واهه. بيا دواړه نبي کريم ﷺ ته ورغلل او خبر يې ورکړ.

فَقَالَ: اَيُّكُمَا قَتَلَهُ؟ قَالَ كُلٌّ مِنْهُمَا: اَنَا قَتَلْتُهُ.

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه: ستاسو څخه چا هغه وواژه؟ هريوه وويل: ما هغه وواژه

قَالَ: هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا؟ قَالَا: لَا. فَنَظَرَ

نبي كريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو خپلې توري پاکي کړې؟ هغوی وويل: نه. نو

النَّبِيُّ ﷺ فِي السَّيْفَيْنِ. فَقَالَ: كِلَاهُمَا قَتَلَهُ.

نبي ﷺ د دواړو توري وکتلې او ويې فرمايل: تاسو دواړو هغه وژلی دئ.

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) ما اسم الشقيقين المتسابقين؟

(٢) لم اراد الشقيقان لن يقتلا ابا جهل؟

(٣) كيف تتجلى محبة رسول الله فى حياتنا وسلوكنا؟

(٤) بم شبه الكاتب الشقيقين عندما شدا على ابى جهل؟

(٥) ايهما قتل ابا جهل؟

اذكر مثنى الكلمات التالية. ثم ضع كلًّا منها فى جملة مفيدة: الشقيق، السيف، الاخ، العلم، الاب.

---

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(٢٣)

جَزَاءُ الْوَالِدَيْنِ (١)

د مور او پلار انعام

وُلِدْتُ صَغِيْرًا ضَعِيْفًا لَا اَقْدِرُ عَلٰى عَمَلٍ، لَا اٰكُلُ
زه کوچنی او کمزوری پیدا سوم، نه مي کار کولای سو، نه مي پخپله خوراک
بِنَفْسِيْ وَلَا اَشْرَبُ بِنَفْسِيْ، وَلَا اَتَكَلَّمُ وَلَا اَفْهَمُ،
کولای سو، نه مي پخپله څښناک کولای سو، نه مي خبري کولای سوې او نه په څه پوهېدم
فَحَنَتْ عَلَيَّ اُمِّيْ وَاَرْضَعَتْنِيْ وَنَسِيَتْ نَفْسَهَا لِنَفْسِيْ،
مور مي په مينه راته راغله، شيدې يې راکړې، خپل ځان يې زما لپاره هېر کړ
وَهَجَرَتْ رَاحَتَهَا لِرَاحَتِيْ، فَكَمْ سَهِرَتِ اللَّيَالِيْ،
خپله آرامتيا يې زما د آرام لپاره قرباني کړه، څو شپې به يې زما لپاره بې خوبه تېرې کړې وي
وَكَمْ تَعِبَتْ فِي النَّهَارِ، وَكُنْتُ لَهَا شُغْلًا وَحَدِيْثًا،
څومره ورځې به يې په زحمت تېرې کړې وي، زه د هغې کار (بوختيا) او وينا (خبري) وم

(١) د مور او پلار دا حقوق او احسان به څنګه اولادونه ور پوره او پر ځای کړي او څنګه به اولادونه دومره ښاغلي او غښتلي سي چي د مور او پلار دا ستر ستر احسانات ورته پوره او حقوق يې پر ځای کړي، ځکه د مور او پلار حقوق او احسانات پر اولادونو بې شمېره او د پوره کولو تر کچي ډېر زيات او لوړ دي. ١٢ ن

وَاِذَا مَرِضْتُ طَارَ عَنْهَا النَّوْمُ، وَمَا ذَاقَتْ طَعَامًا
کله به چي زه ناروغ سوم، خوب به تري تښتېدلی وو، نه به خوراک خوند ورکاوه
وَلَا شَرَابًا، وَاِذَا سَكَتُّ اهْتَمَّتْ وَقَالَتْ: مَا بَالُكَ
او نه څښناک، کله چي به زه غلی سوم، اندېښمنه به سوه، او ويل به يې: په تا څه وسوه
يَا بُنَيَّ! مَاذَا اَسْكَتَكَ؟ لِمَاذَا لَا تَتَكَلَّمُ، اَتَشْكُمُ
اې زما زويه! ته ولې غلی يې؟ ولې خبري نه کوې؟ ايا تا کوم درد
وَجَعًا اَوْ اَغْضَبَكَ اَحَدٌ؟ وَاِذَا بَكَيْتُ جَآءَتْ تَجْرِيْ
ځوروي او يا که چا خوابدی کړی يې؟ او کله چي به ما ژړل، نو په منډه به راغله
وَفِي اللَّيْلِ تَتَكَلَّمُ مَعِيْ وَتُضَاحِكُنِيْ. وَلَمَّا دَخَلْتُ
د شپې به يې راسره خبري کولې، او راسره خندل به يې او کله چي زه وېنځم
فِي السَّنَةِ الْخَامِسَةِ كَانَتْ تَتَحَدَّثُ مَعِيْ فِي اللَّيْلِ،
کال ته داخل سوم، مور به مي د شپې راسره خبري کولې
وَقَدْ عَرَفْتُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فِيْ حَدِيْثِهَا، وَسَمِعْتُ
او په رښتيا چي ما الله تعالی او د هغه رسول ﷺ د مور له خبرو پېژندلي دي او ډېري
قِصَصًا كَثِيْرَةً، سَمِعْتُ مِنْهَا وَاَنَا عَلٰى فِرَاشِيْ قِصَّةَ
کيسې مي ځني اورېدلي دي، د خپل خوب پر بستر مي د ابراهيم عليه السلام

اِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، وَكَيْفَ أُلْقِيَ فِي النَّارِ،
کیسه واوریده، چې څنګه اور ته وغورځول سو
فَصَارَتْ بَرْدًا وَّسَلَامًا، وَكَيْفَ نَشَأَ مُوْسٰى فِيْ قَصْرِ
خو اور سوړ او سلامت سو. او دا چې څنګه موسى عليه السلام د فرعون په ماڼۍ کې
فِرْعَوْنَ، وَسَمِعْتُ قِصَّةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَقِصَّةَ
لوی سو، ما د رسول الله ﷺ او د حليمه سعديه کيسه
حَلِيْمَةَ السَّعْدِيَّةِ وَقِصَصًا جَمِيْلَةً، وَحَفِظْتُ اٰيَةَ
ترې واوريده، او ډېرې ښکلې نورې کيسې مې ترې واورېدې. او ما آية الکرسي
الْكُرْسِيِّ وَالْاٰيَاتِ الْاٰخِيْرَةَ مِنْ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ وَاَدْعِيَةً
او د بقرې د سورت وروستي آيتونه ترې ياد کړل، او ډېرې دعاګانې مې ترې زده
كَثِيْرَةً، فَكُنْتُ عَالِمَ الْاَطْفَالِ. وَكَانَ اَبِيْ يُحِبُّنِيْ
کړې، نو زه د ماشومانو له ډلې عالم وم. پلار مې زما سره ډېر محبت کاوه.
كَثِيْرًا، وَكُنْتُ اَصْغَرَ اِخْوَتِيْ اَبِيْتُ مَعَهُ وَاٰكُلُ مَعَهُ،
زه تر خپلو وروڼو کشر وم، له پلار سره به مې شپه تېروه، او د هغه سره به مې خوراک کاوه
وَاِذَا جَآءَ مِنْ سَفَرٍ اشْتَرٰى لِيْ هَدِيَّةً جَمِيْلَةً، وَكَانَ
کله چې به هغه له سفره راستون سو، نو ما ته به يې ښکلې ډالۍ راوړه. او

النَّاسُ يُحِبُّوْنَنِيْ وَيُقَرِّبُوْنَنِيْ اِلَيْهِمْ لِمَكَانِيْ مِنْ اَبِيْ
خلکو زه خوښولم، او زما د پلار د مقام له وجي به يې زه ځان ته نږدې کولم
وَقَدْ قَرَأْتُ عَلٰى اَبِيْ اَيْضًا، فَهُوَ لِيْ اَبٌ وَمُعَلِّمٌ.
ما له خپل پلار څخه سبق زده کړی دئ، نو هغه زما لپاره هم پلار وو او هم استاذ
وَكَانَ يُوْصِيْ اُمِّيْ اَنْ تَكْسُوَنِيْ يَوْمَ الْعِيْدِ لِبَاسًا
او پلار به مي زما مور ته وصيت كاوه، چي په اختر كي دي ما ته نوي جامې
جَدِيْدًا، وَاِذَا مَرِضْتُ اَوْ سَقَطْتُ مِنْ مَّكَانٍ اَوْ
واغوندي، كله چي به زه ناروغ سوم، يا به له كوم ځايه ولوېدم، يا به څه زيان را ورسېدی،
اَصَابَنِيْ ضَرَرٌ اَوْ اَلَمٌ وَجَاءَهُ الْخَبَرُ طَارَ نَوْمُهُ، وَسَهِرَ
يا به مي درد درلودی او د هغه خبر به مي پلار ته ورسېدی د هغه خوب به وتښتېدی او شپه
اللَّيْلَ هَمًّا وَحُزْنًا، كَيْفَ اُجَازِيْ هٰذِهِ النِّعَمَ؟
به يې په اندېښنه او غم تېروله. زه څنګه کولای سم د دوی د دې احسانونو بدل ورکړم؟
هَلْ يُمْكِنُ اَنْ اُجَازِيَهُمَا بِمَالٍ؟ كَلَّا! فَاَنَا وَمَالِيْ
ايا زه يې په پيسو سره بدل ورکولای يم؟ هېڅکله نه! زه او زما مال دواړه
لِوَالِدَيَّ، نَعَمْ! اَنَا اَخْدِمُهُمَا بِالْمَالِ وَالْبَدَنِ،
د مور او پلار دي. هو! زه به په خپلو پيسو او بدن سره د دوی خدمت کوم

بَلْ اَصِلُ اَصْدِقَاءَهُمَا وَاَقَارِبَهُمَا بِالْبِرِّ وَالْمَعْرُوْفِ

زه به د دوی له دوستانو او خپلوانو سره نېکي کوم

وَلٰكِنِّيْ سَاَدْعُوْ لَهُمَا، وَاَقُوْلُ دَائِمًا فِيْ دُعَائِيْ:

مګر زه به همېشه د دوی لپاره دعاء کوم، او همېشه به په دعاء کي وايم چي:

﴿ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِيْ صَغِيْرًا ﴾

اې زما ربه! دوی وبخښه، لکه څنګه چي زه کوچنی روزلی وم.

وَسَاَجْتَهِدُ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اَنْ يَّغْتَبِطَا بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او زه به هڅه کوم، که د الله تعالی خوښه وه، چي د قيامت په ورځ دوی په ما فخر وکړي

اَمَامَ النَّاسِ وَاَمَامَ الْاٰبَآءِ وَالْاُمَّهَاتِ وَيَغْبِطُهُمَا

د خلکو په وړاندي او د پلرونو او مېندو په وړاندي او له دوی سره غبطه (کست) وکړي

اَصْحَابُ الْاَوْلَادِ وَيَقُوْلُوْنَ: يَا لَيْتَ لَنَا مِنَ الْاَوْلَادِ

د اولادونو خاوندان او ووايي چي: کاش، موږ ته هم داسي اولاد راکړل سوی وای

مِثْلَ مَا اُوْتِيَ فُلَانٌ، اِنَّهُ لَسَعِيْدٌ. وَسَاَجْتَهِدُ اَنْ

لکه فلاني ته چي ورکول سوی دئ، هغه نېکمرغه دئ. او زه به هڅه کوم چي

اَعْمَلَ عَمَلًا يُنَادِيْ بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى رُؤُوْسِ

داسي عمل وکړم چي د قيامت په ورځ زما په نامه د شاهدانو پر سره اعلان وسي،

الْاَشْهَادِ فَيَقُوْلُ النَّاسُ: مَنْ هُوَ؟ فَيُقَالُ: ابْنُ
نو خلک وواييې: دا څوک دی؟ نو ورته وويل سي: د فلاني
فُلَانٍ وَفُلَانَةٍ، فَيَغْتَبِطُ وَالِدَایَ وَيَنْعَمُ بَالِيْ.
او فلانۍ زوی دئ. نو زما مور او پلار به په ما ویاړ وکړي او خوشحاله به سي
وقَدْ سَمِعْتُ اَنَّ الْوَلَدَ اِذَا حَفِظَ الْقُرْاٰنَ يُتَوَّجِ
او ما اورېدلي چي کله يو اولاد قرآن حفظ کړي، د قيامت په ورځ به
وَالِدَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَسَاَجْتَهِدُ فِيْ حِفْظِ الْقُرْاٰنِ
د هغه مور او پلار ته تاج ور په سر کړل سي. زه به ژر تر ژره د قرآن د حفظ کولو کوښښ وکړم
لِيُتَوَّجَ وَالِدَایَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. وَقَدْ سَمِعْتُ اَنَّ
تر څو زما مور او پلار ته د قيامت په ورځ تاج ور پر سر کړل سي او ما اورېدلي دي چي
الشَّهِيْدَ يَشْفَعُ لِسَبْعِيْنَ مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ، وَلَعَلَّ
شهيد کولای سي د اويا خپلوانو شفاعت وکړي. زه اميد لرم
اللهَ يَرْزُقُنِيْ الشَّهَادَةَ، فَاَشْفَعُ لِوَالِدَیَّ قَبْلَ
چي الله تعالی ما ته شهادت را نصيب کړي نو زه به د خپلو والدينو شفاعت وکړم، مخکي
النَّاسِ، وَبِذٰلِكَ اُجَازِیْ بَعْضَ نِعَمِهِمَا.
له نورو خلکو، او داسي به نو زه د دوی د احسان يوه برخه بدله ورکړم.

اَلْاَسْئِلَةُ (١)

(١) من يعتنى بشؤون الصغار فى المنزل؟

(٢) من يحكى لك القصص الجميلة ويتعب كى ترتاح؟

(٣) من يجلب لك الهدايا الجميلة، ويلاعبك؟

(٤) ما واجبك تجاه والديك؟

(٥) ماذا تقول فى دعائك لوالديك؟

اكمل الفراغات التالية مستعينا بالنص:

سمعت ان الولد اذا حفظ ... يتوج ... يوم القيامة.

فساجتهد فى حفظ ...... ليتوج ..... يوم ....

(١) محترم استاذ دي له شاګردانو څخه د دې سوالونو تر څنګه ځيني نور همدا ډول سوالونه او همدا راز د همدې درس خلاصه او لنډيز هم وپوښتي، تر څو په شاګردانو کي ښه پياوړتيا راسي او استعداد يې قوي سي. ١٢ ن

(۲۴)

اَدَبُ الْاَكْلِ وَالشُّرْبِ (۱)

د خوراک او څيښاک ادب

كَانَ عُمَرُ بْنُ اَبِيْ سَلَمَةَ غُلَامًا صَغِيْرًا وَكَانَ
عمر بن ابي سلمه رضي الله عنه يو کوچنی هلک وو چي
مَعَ اُمِّهٖ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، وَكَانَتْ اُمُّ
د خپلي مور ، ام سلمه رضي الله عنها سره وو ، او ام
سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ ﷺ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ وَفَاةِ اَبِيْ
سلمه د پيغمبر ﷺ ښځه وه، چي له هغه سره يې د ابي سلمه رضي الله عنه تر وفات
سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، فَكَانَ عُمَرُ فِيْ حِجْرِ
وروسته واده وکړ. نو عمر د پيغمبر ﷺ په سرپرستي کي وو
النَّبِيِّ ﷺ وَكَانَ عُمَرُ يَأْكُلُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ
او د پيغمبر ﷺ سره يې داسي خوراک کړی وو
كَمَا يَأْكُلُ الْوَلَدُ الصَّغِيْرُ مَعَ اَبِيْهِ، وَكَمَا تَأْكُلُ
لکه څنګه چي کوچنی ماشوم د خپل پلار سره خوراک کوي، او لکه څنګه چي تاسو

(۱) دغه آداب او سنيات په ځان کي راوستل مهم دي، له دې درس څخه بايد شاګردان همدغه آداب زده او په خپل ورځني ژوند کي عملي کړي. ۱۲ ن

اَنْتَ مَعَ اَبِيْكَ وَاُمِّكَ. وَكَانَ عُمَرُ غُلَامًا يَتِيْمًا

له خپل پلار او مور سره خوراک کوئ. او عمر يتيم هلک وو ځکه چي پلار يې

مَاتَ اَبُوْهُ وَهُوَ صَغِيْرٌ فَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّهُ

هغه وخت وفات سو چي هغه وړوکی وو او پيغمبر ﷺ له هغه سره محبت درلودی

وَيُعَلِّمُهُ الْاَدَبَ. فَكَانَ يَاْكُلُ مَرَّةً مَعَ النَّبِيِّ ﷺ

او هغه ته يې آداب ښوول. يوه ورځ هغه د پيغمبر ﷺ سره خوراک کاوه

فَكَانَتْ يَدُهُ تَدُوْرُ فِي الصَّحْفَةِ وَكَانَ يَاْكُلُ

نو د هغه لاس په صحفه کي ګرځېدی او خوراک يې کاوه

مِنْ هُنَا وَهُنَا كَمَا يَاْكُلُ كَثِيْرٌ مِنَ الْاَوْلَادِ.

له يوې او بلې خوا څخه لکه څنګه چي زياتره ماشومان همداسي خوراک کوي

فَعَلَّمَهُ النَّبِيُّ ﷺ كَيْفَ يَاْكُلُ وَقَالَ لَهُ:

نو پيغمبر ﷺ هغه ته د خوړلو طريقه ور وښوول او ورته يې وويل:

سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ. وَهٰكَذَا يَنْبَغِيْ اَنْ

د الله نوم ياد کړه او له هغه ځايه يې وخوره چي ستا لاس ته نژدې وي او همداسي په کار ده

يَاْكُلَ الْمُسْلِمُ، فَيُسَمِّي اللّٰهَ وَيَاْكُلُ بِيَمِيْنِهِ

مسلمان ته چي خوراک وکړي، د الله نوم ياد کړي، او په راسته لاس يې وخوري

وَيَاْكُلُ مِمَّا يَلِيْهِ. وَهٰكَذَا عَلَّمَ النَّبِيُّ ﷺ اُمَّتَهُ

او له هغه ځايه يې وخوري چي هغه ته نږدې وي. همداسي ښوولي دئ پيغمبر ﷺ خپل امت ته

اَدَبَ الْاَكْلِ وَالشُّرْبِ وَاَدَبَ كُلِّ شَيْءٍ، كَمَا
د خوړلو او څښلو آداب او د هر شي آداب لکه څنګه چي يې
عَلَّمَ عُمَرَ بْنَ اَبِيْ سَلَمَةَ الصَّغِيْرَ وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ:
عمر بن ابي سلمه ته ور ښوولي دي. او پيغمبر ﷺ وفرمايل:
اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا. وَقَدْ اَدَّبَ اللهُ النَّبِيَّ ﷺ
بيشکه زه د استاذ په توګه را لېږل سوی يم. او الله تعالی پيغمبر ﷺ ته
وَعَلَّمَهُ اَدَبَ كُلِّ شَيْءٍ فَقَالَ: اَدَّبَنِيْ رَبِّيْ فَاَحْسَنَ
د هر شي آداب ښوولي دي، لکه څنګه چي هغه ﷺ وفرمايل: زما رب ما ته د ادب ښووني
